افغان کرکټ
AFGHAN CRICKET

# AFGHANATALAN IN THE ICC MEN'S ODI TEAM OF THE YEAR 2024










# بـــريا د ټولو هيله

**GLORIOUS NATION**

**VICTORIOUS TEAM**

## سوداگريزه څانگه

يوولسم کال، لومړۍ گڼه | درې مياشتنۍ مجله | ۲۰۲۵ز کال

افغانستان کرکټ بورډ

سوداګریزه خانګه

درې میاشتنۍ مجله

۲۰۲۵م کال




| | |
|---|---|
| د امتیاز څښتن: | افغانستان کرکټ بورډ |
| مسوول مدیر: | عبدالله خان پکتانی |
| لیکوالان او راټولوونکي: | حکیم الله احمدزی، خپلواک دریځ، خوشحال درانی او سید نسیم سادات |
| عکاس: | سید حسرت سادات |
| ډیزاین: | احمد عابد سعادت |

www.facebook.com/AfghanistanCricketBoardOfficial
www.facebook.com/ACBDomestic
www.facebook.com/GAOneDayCup
twitter.com/ACBofficials
twitter.com/AcbDomestic
/twitter.com/GAOneDayCup
www.instagram.com/afghanistancricketboard/
www.instagram.com/gaonedaycup/
www.youtube.com/c/AfghanistanCricketBoardOfficial
cricket.af/
whatsapp.com/channel/0029Va8IzMuJkK71MdD70Q1m

# لیکلړ


| | | |
|---|---|---|
| ۱ | سرمقاله | 1 |
| 2 | د کرکټ نړیوالې شورا په چمپینز ټرافي سیالیو کې د افغان لوبډلې لوبو ته کتنه | 2 |
| 3 | افغان اتلانو د کرکټ نړیوالې شورا سترې کلنۍ جایزې په خپل نوم کړې | 12 |
| 4 | ننگرهار کې د افغان ابدالیانو تمریناتي کمپ روان دی | 16 |
| 5 | په چمپینز ټرافي سیالیو کې د ابراهیم ځدراڼ او عظمت الله عمرزي نوې کارنامې | 20 |
| 6 | د وزیر محمد اکبرخان دویمه درجه ولایتي سیالیو مخکښې اته لوبډلې په ډاگه شوې | 24 |
| 7 | عظمت الله عمرزی د خپل بېساري پرمختگ په لړ کې د یو ورځنیو نړیوالو سیالیو مخکښ الرونډر شو | 26 |
| 8 | اې سي بي ایلېون لوبډلې د وزیر محمد اکبرخان لومړۍ درجه ولایتي سیالیو اتلولي خپله کړه | 30 |
| 9 | افغان نوولس کلنې لوبډلې د راتلونکو سیالیو لپاره په خوست او ننگرهار کې د چمتووالي کمپونه ترسره کړلې | 37 |
| 10 | افغان ابدالیان په ننگرهار کې د چمتووالي له کمپ وروسته په درې اړخیزه لوبلړۍ کې گډون کوي | 40 |
| 11 | د افغانستان کرکټ بورډ انجنیرۍ څانگې په ننگرهار، لغمان او بغلان ولایتونو کې رغنیزې پروژې پیل کړې | 44 |
| 12 | د کرکټ بورډ ولایتي استازو لپاره دوه ورځنۍ ورکشاپ ترسره شو | 46 |
| 13 | د کرکټ خصوصي روزنځایونو مسوولینو ته د مدیریت د معیاري او عملیاتی کړنلارې د تطبیق په موخه ورکشاپ دایر شو | 47 |
| 14 | د افغانستان کرکټ بورډ د ظرفیت لوړونې څانگې د لوبې د ویډیویي شننې او طبي مساژ ورکشاپونه ترسره کړل | 48 |
| 15 | په کرکټ کې نه هېرېدونکې شېبې | 50 |
| 16 | په ۲۰۲۵ز کال کې د افغان اتلانو بېلابېلې نړیوالې سیالۍ | 62 |
| 17 | د کرکټ قوانین: یوه مهمه اړتیا | 66 |

# سرمقاله

افغان کرکټ بورډ د تېر زېږدیز کال (۲۰۲۴ز) په څېر سږ ۲۰۲۵ز کال هم په بریا سره پیل کړی دی. د دې کال په فبرورۍ میاشت کې افغان ملي لوبډلې د اتلانو په جام (چمپینز ټرافي) سیالیو کې په بریا سره ګډون وکړ. له انګلستان ټخه یې ستره بریا خپله کړه، له سویلي افریقا یې ماتې ومنله او له بده مرغه له استرالیا سره لوبه د باران ورښت له امله لغوه شوه چې په پایله کې یې افغان لوبډلې د دغو سترو سیالیو پنځم مقام خپل کړ او نړیوالو ترې ښه ستاینه وکړه.

سربېره پر دې د کورنۍ کرکټ له اړخه هم بوخت کال دی، د کال په پیل کې د وزیر محمد اکبرخان دویمه درجه ولایتي سیالۍ ترسره شوې، ورپسې وزیر محمد اکبرخان لومړۍ درجه ولایتي سیالۍ هم ترسره شوې چې ورپسې به د اپریل په لومړۍ اونۍ کې د میرویس نیکه درې ورځنۍ سیالۍ پیل شي، له پای ته رسېدو وروسته به یې د احمدشاه ابدالي فرسټ کلاس سترې سیالۍ په پام کې ونیول شي او دغه راز د کورنۍ کرکټ نورې سترې سیالۍ چې له وړاندې اعلان شوې دي.

د ظرفیت لوړونې مرکز څو بېلابېل ورکشاپونه ترسره کړل چې موثریت یې د تخنیکي کارکوونکو او روزونکو لپاره ډېر ممد او اړین وو. دغه راز د کرکټ بورډ اداري د ټولو ولایتي امرینو او استازو لپاره د غوره همغږۍ او پلان د عملي کولو ورکشاپ ترسره کړ، ترڅو پر بنسټ یې دوی وکولی شي خپل کلنۍ پلانونه او ترمنځ یې همغږي په ښه ډول وشي.

دغه راز د اداري د مشرتابه له لوري د ابوظبي د ورزش او کرکټ له کمپلکس سره د همکارۍ تړون لاسلیک شو چې پر بنسټ به یې د افغان ځوان لوبغاړو لپاره کمپونه او سیالۍ او دغه راز د ظرفیت لوړونې ورکشاپونه د ابوظبي په هب یا مرکز کې له کوم فیس پرته ترسره کېږي او د یاد مرکز له ټولو معیاري اسانتیاو او سهولتونو به ګټه اخلي.

د یادونې وړ ده چې په یاده موده کې د نوولس کلنو لوبغاړو لپاره د هېواد په ننګرهار او خوست ولایتونو کې د تکړښت، تمریناتو او چمتووالي په موخه کمپونه ترسره شول چې په پایله کې ترې ۱۷ لوبغاړي چاڼ او غوره شول چې د نیپال پر وړاندې به د درې یو ورځنیو سیالیو په لوبلړۍ کې ګډون وکړي او دغه راز به د یادو لوبډلو د نړیوال جام سیالیو ته د لارموندنې په لړۍ کې هم ګډون وکړي چې یادې سیالۍ هم په همدې هېواد کې ترسره کېږي.

د الف (افغان ابدالیان) لوبډلې لپاره درې اړخیزه لوبلړۍ تنظیم شوې چې پکې د افغانستان په کوربه توب د ایرلنډ او سریلانکا لوبډلې ګډون لري چې یاده لوبلړۍ به هم په متحده عربي اماراتو کې په راتلونکې اپریل میاشت کې پیل شي چې اووه یو ورځنۍ او دوه څلور ورځنۍ لوبې پکې شاملې دي.

په پای کې باید ووېل شي چې د مالي ملاتړو له اړخه هم افغان کرکټ بورډ تر اوسه د ټولو سترو سیالیو لپاره غوره مالي ملاتړي موندلي دي چې سربېره پر دې یې د کورنیو سیالیو لپاره هم مالي ملاتړي پیدا کړي دي او په دې سره به روان کال د سیالیو له اړخه ډېر مؤثر او بوخت وي.

درناوی

اداره



# د کرکټ نړیوالې شورا په چمپینز ټرافي

## سیالیو کې د افغان لوبډلې لوبو ته کتنه

## چمپینز ټرافي سیالۍ او لوبډلو ګډون



د افغانستان کرکټ ملي لوبډلې سږکال د لومړي ځل لپاره د کرکټ نړیوالې شورا په چمپینز ټرافي سیالیو کې ګډون وکړ چې پکې یې انګلستان ته ماتې ورکړه او په یادو سیالیو کې خپل لومړی ګډون تاریخي او یادګاري ثابت کړ.

## چمپینز ټرافي سیالۍ او لوبډلو ګډون

د کرکټ نړیوالې شورا چمپینز ټرافي سیالۍ هر څلور کاله وروسته د نړۍ د ۸ غوره لوبډلو ترمنځ ترسره کېږي. دغه سیالۍ په ۵۰ اوریزه بڼه لري چې د یو ورځنیو سیالیو له نړیوال جام وروسته د نړۍ په کچه تر ټولو سترې یو ورځنۍ سیالۍ شمېرل کېږي. که د سیالیو کیفیت او څرنګوالي او دغه راز د لوبډلو د پیاوړتیا له نظره ورته وکتل شي نو دغه سیالۍ له نړیوال جام هم مخکې کېږي او لومړی مقام خپلوي، ځکه چې په دغو سیالیو کې یوازې ۸ مخکښې لوبډلې ګډون لري، هره لوبه کې دوه پیاوړې لوبډلې سره مخ کېږي او هره لوبه یې له سختې سیالۍ او رقابت نه ډکه وي او د مینه والو لپاره هم ځانګړی ارزښت لري.

دغو سیالیو ته د نړیوال جام په پرتله لارمونده هم سخته ده او ډېری وخت ډېرې سترې لوبډلې په دغو

سیالیو کې له لوبډو بې برخې کېږي. د ۲۰۲۵م کال چمپینز ټرافي سیالیو ته لارموندنې پروسه په ۲۰۲۳م کال نړیوال جام سیالیو کې پیل شوه چې له مخې یې د نړیوال جام ۸ مخکښو لوبډلو دغو سیالیو ته لاره موندله.

د افغانستان کرکټ ملي لوبډلې په ۲۰۲۳م کال نړیوال جام سیالیو کې ځلور برياوې خپلې کړې او داسې لوبډلې یې ماتې کړې چې ماتول یې د ډېرو افغانانو هیله او ارمان و. افغان لوبډلې د دې سیالیو په ترځ کې لومړی انګلستان، بیا پاکستان، وروسته سریلانکا او له دې وروسته نیدرلنډز لوبډلو ته ماتې ورکړې او په ځلورو برياو سره یې د لسو ګډون کوونکو لوبډلو ترمنځ شپږم مقام خپل کړ چې پرمټ یې نبغ په نبغه د کرکټ نړیوالې شورا د ۲۰۲۵م کال چمپینز ټرافي یا اتلانو جام سیالیو ته لاره وموندله.

د افغان لوبډلې ترڅنګ په نورو لوبډلو کې د ۲۰۲۳م کال نړیوال جام اتله لوبډله استرالیا، دویم مقام ګټونکې لوبډله هندوستان، سویلي افریقا، نیوزیلنډ، انګلستان او بنګله دېش لوبډلې د ۲۰۲۵م کال اتلانو جام سیالیو ته لاره وموند‌ه. پاکستان چې د دغو سیالیو کوربه توب یې په غاړه درلود، وار له مخه یادو سیالیو کې د ګډون حق ترلاسه کړی و. د کرکټ د نړۍ ځلورو نورو سترو لوبډلو، ویسټ انډیز، سریلانکا، زمبابوې او ایرلنډ ونشو کړی چې دغو سیالیو ته لاره ومومي او له دغو سیالیو کې له ګډون بې برخه شوې.




د کرکټ نړیوالې شورا د اتلانو جام سیالیو ته لارموندنه او په دغو سیالیو کې ګډون د افغان لوبډلې لپاره ستر ویاړ او لاسته راوړنه ده چې نه یوازې د کرکټ نړیوالې شورا بلکې د کرکټ نړۍ سترو مبصرینو له لوري وستایل شوه.

## د افغان لوبډلې نوملړ او چمتووالی

د کرکټ نړیوالې شورا د ۲۰۲۵م کال چمپینز ټرافي سیالیو د افغانستان کرکټ ملي لوبډلې نوملړ د یادو سیالیو له پیل یوه میاشت وړاندې په داسې شو چې پکې د حشمت الله شهیدي په لوبډلمشرۍ ۱۵ لوبغاړي شامل وو. په ۱۵ کسیزه لوبډله کې ځوان ورو توپ اچوونکی غضنفر هم و، چې وروسته بیا د ملا په مهره کې د کسر پیدا کېدو له امله له یادو سیالیو بهر شو او پر ځای یې ننګیال خروټی چې له دې وړاندې




د احتیاطي لوبغاړو په ډله کې شامل و، ۱۵ کسیزې لوبډلې ته اضافه شو.

په نوره لوبډله کې د لوبډلمشر ترخنګ رحمت شاه زرمتی، رحمن الله ګربز، اکرام علي خېل، ابراهیم ځدراڼ، صدیق الله اتل، عظمت الله عمرزی، محمد نبي، ګلبدین نایب، راشد خان، نور احمد، فضل الحق فاروقي، فرید احمد ملک او نوید ځدراڼ شامل و. دغه راز په احتیاطي لوبغاړو کې درویش رسولي او بلال سمیع شتون درلود. افغان لوبډله د دغو سیالیو لپاره له یوه کال راهیسې په چمتووالي بوخته وه او په دې لړ کې یې په مسلسله توګه د نړیوالو لوبډلو پر وړاندې یو ورځنۍ سیالۍ ترسره کړې. افغان لوبډلې د تېر ۲۰۲۴م کال په لومړیو کې سریلانکا ته سفر وکړ. له هغه وروسته یې په خپل کوربه توب د ایرلنډ، سویلي افریقا او بنګله دېش پر وړاندې یو ورځنۍ لوبې ترسره کړې او د کال په وروستیو کې یې زمبابوې ته سفر وکړ. افغان لوبډلې په دې موده کې یوازې په سریلانکا کې خپلې لوبې وبایللې، خو په پاتې ټولو لوبړیو کې یې خورا ښې لوبې وکړې او د خپلو سیالانو په ماتولو سره یې چمپینز ټرافي سیالیو ته ښه چمتووالی وکړ.



سربېره پر دې، افغانستان کرکټ بورډ د چمپینز ټرافي سیالیو لپاره د غوره چمتووالي په موخه افغان لوبډله د روان کال په جنوري میاشت کې متحده عربي اماراتو ته ولېږله، ترڅو هر اړخیز تمرینات ترسره کړي او د یادو سیالیو لپاره لا غوره چمتووالی ونیسي. افغان لوبډله په متحده عربي اماراتو کې له ۲۰ ورځني تمریناتي کمپ وروسته د فبرورۍ میاشتې په ۱۲مه نېټه پاکستان ته ورسېده او هلته یې دوه تمریناتي سیالۍ هم ترسره کړې. افغان لوبډلې خپله لومړۍ تمریناتي لوبه د پاکستان الف لوبډلې پر وړاندې په لاهور او دویمه تمریناتي لوبه یې بیا د نیوزیلنډ پر وړاندې په کراچۍ کرکټ لوبغالي کې ترسره کړه. افغان لوبډلې که څه هم خپلې دواړه تمریناتي لوبې وبایللې، خو د نیوزیلنډ لوبډلې پر وړاندې یې ډېره ښه لوبه وکړه او د رحمن الله ګربز د سلیزې پرمټ یې له ۳۰۰ زیاتې منډې جوړې کړې چې د رسمي سیالیو لپاره د چمتووالي په برخه کې اغېزمن ثابت شو.




# په چمپینز ټرافي سیالیو کې د افغان لوبډلې رسمي لوبې او د انګلستان پر وړاندې ستره بریا

د افغانستان کرکټ ملي لوبډلې د کرکټ نړیوالې شورا د چمپینز ټرافي سیالیو په دویم ګروپ کې شتون درلود. په یاد ګروپ کې د افغان لوبډلې ترڅنګ د نړۍ درې نورې خورا پیاوړې لوبډلې سویلي افریقا، انګلستان او استرالیا هم شاملې وې. افغان لوبډلې په یادو سیالیو کې خپله لومړۍ رسمي لوبه د فبرورۍ میاشتې په ۲۱مه نېټه د سویلي افریقا پر وړاندې ترسره کړه، چې پکې افغان لوبډلې ماتې وخوړه. دا لوبه داسې وه چې سویلي افریقا لومړۍ د توپوهنې پرېکړه وکړه او په لومړۍ پاڼۍ کې د خپلو ٦ لوبغاړو په زیان سره ۳۱۵ منډې جوړې کړې، دغه هدف افغان لوبډلې ترلاسه نکړی شو او د رحمت شاه د غوره توپوهنې سره سره یې دغه لوبه د ۱۰۷ منډو په توپیر سیالې لوبډلې ته وبایلله.

افغان لوبډله د فبرورۍ میاشتې په ۲٦مه نېټه د انګلستان پر وړاندې د سیالۍ ډګر ته ښکته شوه، دغه لوبه د لاهور په قذافي کرکټ لوبغالي کې ترسره کېده چې افغان لوبډلې د یوې خورا غوره او جالبې لوبې په پایله کې سیالې لوبډلې لوبډلې ته ماتې ورکړه او د کرکټ نړیوالې شورا په چمپینز ټرافي سیالیو کې یې لومړنۍ بریا خپله کړه. افغان لوبډلمشر دا ځل د لوبې پچه وګټله او لومړۍ یې توپوهنه غوره کړه. افغان لوبډلې که څه هم ښه پیل ونکړ او د سر درې لوبغاړي یې په ۳۷ منډو کې له لاسه ورکړل خو وروسته یې د ابراهیم ځدراڼ، لوبډلمشر حشمت الله شهیدي، عظمت الله عمرزي او محمد نبي د غوره توپوهنې پرمټ په لومړۍ پاڼۍ کې د خپلو ۷ لوبغاړو په زیان سره ۳۲۵ منډې جوړې کړې او سیالې انګلستان



لوبډلې ته يې د ۳۲۶ منډو هدف وټاکه.

ابراهيم ځدراڼ په دغه لوبه کې د ۱۲ څلوريزو او ٦ شپږيزو پرمټ ۱۷۷ منډې جوړې کړې. دا د يو ورځنيو نړيوالو سياليو کې په يوه پاڼۍ کې د افغان لوبغاړو تر ټولو زياتې فردي منډې دي. له دې وړاندې هم د دغه وياړ ابراهيم ځدراڼ درلود، چې په يوه پاڼۍ کې يې ۱۶۲ منډې جوړې کړې وې. سربېره پر دې، د نوموړي ۱۷۷ منډې د کرکټ نړيوالې شورا د چمپينز ټرافي سياليو په يوه پاڼۍ کې هم تر ټولو زياتې منډې شوې او دغه ستر وياړ يې د خپل ځان او افغانستان په نوم کړ.

د ياد هدف په دفاع کې افغان اتلانو په وار وار سيال لوبغاړي له ډګره بهر کړل او د يوې خورا جالبې او په زړه پورې لوبې په پايله کې يې سياله لوبډله په ۳۱۷ منډو له ډګره بهر کړه او د ۸ منډو په توپير يې دا لوبه په خپله ګټه پای ته ورسوله. د افغان لوبډلې په ګټه عظمت الله عمرزي خورا عالي توپ اچونه وکړه او د سيالې لوبډلې ۵ ويکټې يې ترلاسه کړې. د نوموړي ترڅنګ محمد نبي، راشد خان، ګلبدين نايب او فضل الحق فاروقي هم ښه توپ اچونه وکړه او په دې ستره بريا کې يې خپله ونډه ادا کړه. تکړه پيلیز توپوهونکی ابراهيم ځدراڼ د يادې لوبې غوره لوبغاړی ونومول شو، خو عظمت الله عمرزي هم د ۴۱ منډو په جوړولو او بيا په خورا مهم وخت کې د ۵ ويکټو په ترلاسه کولو سره په دغه بريا کې رغنده رول ولوباوه.

دا د کرکټ نړيوالې شورا په چمپينز ټرافي سياليو کې د افغان لوبډلې لومړنۍ تاريخي بريا وه. دغه راز دا د کرکټ نړيوالې شورا اړوند سياليو کې د انګلستان پر وړاندې د افغان اتلانو دويمه پرلپسې بريا وه. افغان لوبډلې له دې وړاندې د ۲۰۲۳م کال نړيوال جام سياليو په ترڅ کې هم انګلستان ته ستره ماتې ورکړې وه او د يادې لوبډلې پر وړاندې په دويمې بريا سره يې يو ځل بيا د نړۍ پام ځان ته واړاوه او د نړيوالو باور يې لا په ځان زيات کړ.

له دې سترې بريا دوه ورځې وروسته د فبروري مياشتې په ۲۸مه نېټه، په همدې لاهور ښار کې د استراليا پر وړاندې د سيالۍ ډګر ته ننګته شوه. افغان لوبډلې يو ځل بيا د توپوهنې پربکړه وکړه خو دا وار يې هم ښه پيل ونکړ او د ابراهيم ځدراڼ په شمول يې د سر درې لوبغاړي



يې وختي له لاسه ورکړل. دا ځل بل ځوان لوبغاړی صديق الله اتل را مخکې شو او خورا زړوره لوبه يې وکړه، نوموړي که څه هم سليزه ترلاسه نکړې شوه خو د ۸۵ مهمو منډو په جوړولو سره يې د نړيوالو پام ځان ته واړاوه. د نوموړي ترڅنګ عظمت الله عمرزي ډېره ښه توپوهنه وکړه او ٦٧ چټکې منډې يې جوړې کړې چې پرمټ يې افغان لوبډلې استراليا ته د ۲۷۴ منډو هدف وټاکه. افغان لوبډلې د ياد هدف په دفاع کې يو سيال لوبغاړی هم له ډګره بهر کړ خو په دويمه پاينۍ کې يوازې ۱۲.۵ اوره لوبه وشوه او پاتې لوبه د ډېر شديد ورښت له امله ترسره نشوه او بې پايلې پای ته ورسېده چې د سياليو د اصولو له مخې دواړو لوبډلو ته يوه-يوه نمره ورکړل شوه.

افغان لوبډلې که څه هم د يادو سياليو نيمه پايلوبو ته لاره پيدا نکړه خو د په يوې بريا او ۳ نمرو سره يې د ۸ لوبډلو ترمنځ پنځم مقام خپل کړ چې د افغانستان کرکټ ملي لوبډلې لپاره يوه بله ستره لاسته راوړنه شمېرل کېږي.




## افغان لوبډلې غوره لوبغاړي

په ۲۰۲۵م کال چمپينز ټرافي سياليو کې د افغان لوبډلې له لوري تر ټولو مخکښ توپوهونکی ابراهيم ځدراڼ و چې په دغو سياليو کې يې د يوې سليزې پرمټ د ۷۲ منډو په اوسط ۲۱٦ منډې جوړې کړې. دغه راز عظمت الله عمرزي په ۱۲٦ منډو دويم، رحمت شاه زرمتی په ۱۰٦ منډو دريم او صديق الله اتل چې په يادو سياليو کې يې د افغان لوبډلې په ګټه ۱۰۵ منډې جوړې کړې وې، څلورم مخکښ توپوهونکی و. دغه راز په توپ اچوونکو کې بيا عظمت الله عمرزی تر ټولو مخکښ و چې ۷ ويکټې يې ترلاسه کړې وې. د نوموړي ترڅنګ محمد نبي په څلورو ويکټو سره دويم او فضل الحق فاروقي په ۲ ويکټو سره دريم مخکښ افغان توپ اچوونکی و.

په ټوله کې ابراهيم ځدراڼ او عظمت الله عمرزي د افغان لوبډلې په ګټه خورا غوره لوبې وکړې. دواړه لوبغاړي د


etisalat and


NABI
7
AFGHANISTAN


Emirates
aramco
SOBHA
DP WORLD
ICC


AFGHANISTAN








توپوهنې په برخه کې د خپل ثبات او دوامدارۍ غوره لوبې له امله ډېر وستایل شول. عظمت الله عمرزي په توپ اچونه کې هم ډېر ښه وځلېد او په مهمو شېبو کې د لوبډلې په ګټه ښه ثابت شو چې د کرکټ په نړۍ کې د الرونډر په توګه خپل نوم لا وځلاوه.

## افغانستان؛ د اسیا دویمه مخکښه لوبډله

د کرکټ نړیوالې شورا په تېرو دوه نړیوالو جامونو او روانو چمپینز ټرافي سیالیو کې د افغان لوبډلې غوره لوبو ته په کتو د کرکټ نړیوالو مبصرینو او مخکښو رسنیو افغان لوبډله د اسیا دویمه مخکښه لوبډله یاده کړه. په تېرو درې کلونو کې د کرکټ نړیوالې شورا اړوند سیالیو (۲۰۲۳م کال نړیوال جام، ۲۰۲۴م کال شل اوریز نړیوال جام او ۲۰۲۵م کال چمپینز ټرافي) کې د افغان لوبډلې بریاو او د نړیوالو لوبډلو پر وړاندې غوره سیالیو ته په کتو، افغان لوبډله له هند وروسته د اسیا دویمه پیاوړې لوبډله ګڼل شوې ده.

افغان لوبډلې د کرکټ نړیوالې شورا اړوند په تېرو درې پړاو سیالیو کې ټولې ۱۹ لوبې کړې چې په ترڅ کې یې ۱۰ بریاوې خپلې کړې او پاتې ۹ لوبې یې سیالو لوبډلو ته بایللې دي. د افغان لوبډلې د بریاو شمېره او د بریاو سلنه په اسیایي لوبډلو کې له هند وروسته تر ټولو لوړه دی. پاکستان لوبډلې په همدې درې پړاو سیالیو کې ۱۵ لوبې کړې چې یوازې ٦ لوبې یې ګټلې دي. بنګله دېش ۵ لوبې ګټلې او ۱۳ لوبو کې ماتې سره مخ شوې او سریلانکا په ۱۲ لوبو کې یوازې ۳ لوبې ګټلې دي. دغه راز د بشپړ غړیتوب لرونکو لوبډلو پر وړاندې افغان




لوبډلې ۷ برياوې خپلې کړې دي. پاکستان ۴، بنګله دېش ۳ او سريلانکا يوازې يوه لوبه ګټلې ده او نورې ۹ نورې يې بايللې دي. سربېره پر دې نيمه پايلوبو ته د رسېدو په برخه کې افغان لوبډله يوازېنۍ لوبډله ده چې يو ځل په شل اوريز نړيوال جام کې تر نيمه پايلوبو رسېدلې ده؛ دا نورې درې لوبډلې د کرکټ نړيوالې شورا په تېرو درې پړاو سياليو کې يو ځل هم تر نيمه پايلوبو نده رسېدلې. تر دې چې سريلانکا په ۲۰۲۳م کال نړيوال جام سياليو کې ښې لوبې ونکړې او چمپينز ټرافي سياليو کې له ګډون هم بې برخې شوه. د دغو ارقامو پربنسټ دا ثابتېږي چې افغان لوبډلې د کرکټ نړيوالې شورا په تېرو درې نړيوالو جامونو کې له يادو درې اسيايي لوبډلو ښې لوبې کړې او په يو ورځنيو او شل اوريزو سياليو کې له هندی لوبډلې وروسته دويمه مخکښه اسيايي لوبډله ګڼل کېږي.

له بلې خوا د سويلي افريقا پخواني تېز توپ اچوونکي ډېل سټېن، چې اوسمهال د کرکټ نړيوالې شورا په سياليو کې د مبصر په توګه دنده ترسره کوي، د افغانستان د کرکټ لوبډلې د چټک پرمختګ ستاينه کړې او وايي چې که افغان لوبډله همداسې پرمخ روانه وي او په ځينو برخو کې سمون راولي نو کولی شي چې په راتلونکي يوه لسيزه کې د نړيوال جام اتلولي خپله کړي. په افغان لوبډله د نړۍ د سترو مبصرينو بېساری باور د افغان لوبډلې او لوبغاړو د بېسارو لوبو او برياو پايله ده. افغان لوبغاړو نه يوازې دا چې په دې سياليو کې خپلې وړتياوې ثابتې کړې، بلکې د کرکټ نړۍ ته يې دا پيغام هم ورکړ چې دوی د نړيوال کرکټ يوه مهمه برخه دي او د سترو لوبډلو پر وړاندې لوبو ته چمتو دي.




# افغــــــان اتلانــــــو
## د کرکټ نړیوالې شورا سترې کلنۍ جایزې
### پـــه خـــپل نـــوم کـــړې

د افغانستان کرکټ ملي لوبډلې یو شمېر پیاوړو لوبغاړو د کرکټ نړیوالې شورا د ۲۰۲۴م کال د کلنیو جایزو په ترڅ کې یو شمېر سترې جایزې په خپل نوم کړې. د دغو جایزو په ترڅ کې تر ټولو ستره جایزه عظمت الله عمرزي ترلاسه کړه چې له مخې یې د ۲۰۲۴م کال د یو ورځنیو نړیوالو سیالیو ترټولو غوره لوبغاړی ونومول شو.

عظمت الله عمرزی د دغې سترې جایزې ترڅنګ، د دوه نورو افغان لوبغاړو رحمن الله ګربز او غضنفر سره یوځای د کرکټ نړیوالې شورا د ۲۰۲۴م کال د یو ورځنیو نړیوالو سیالیو غوره لوبډله کې هم ټاکل شوی و. دغه راز د افغانستان کرکټ ملي لوبډلې د شل اوریزو نړیوالو سیالیو لوبډلمشر راشد خان د ۲۰۲۴م کال د شل






اوریزو نړیوالو سیالیو په غوره لوبډله کې ځای خپل کړ.
عظمت الله عمرزي په ۲۰۲۴م کال کې ۱۲ نړیوالې یو ورځنۍ سیالۍ کړې، چې پکې یې د یوې سلیزې او درې نیمه سلیزو پرمټ د ۵۲.۱ منډو په اوسط سره ۴۱۷ منډې جوړې کړې. د نوموړي تر ټولو غوره توپوهنه او ډېرې منډې ۱۴۹ وې چې په یوه لوبه کې یې د سریلانکا پر وړاندې جوړې کړې وې. نوموړی نه یوازې په توپوهنه کې وځلېد، بلکې په توپ اچونه کې یې هم ۱۷ ویکټې ترلاسه کړې چې پرمټ یې هم د یو ورځنیو نړیوالو سیالیو په غوره لوبډله کې ځای خپل کړ او هم د ۲۰۲۴م کال د یو


AFGHANATALAN
IN THE
ICC MEN'S ODI TEAM
OF THE YEAR 2024
RAHMANULLAH GURBAZ
AZMATULLAH OMARZAI
AM GHAZANFAR

ورځنيو سياليو تر ټولو غوره لوبغاړی وټاکل شو.

د دغې ستري جايزې لپاره د عمرزي ترڅنګ، د سريلانکا دوه پياوړي لوبغاړي کوشال مېنډېس او ونيدو هسرنګا او دغه راز د ويسټ انديز هېواد پياوړی توپوهونکی شرفېن ردرفورډ نوماندان و، خو عظمت الله عمرزی د خپلو ښېسارو لوبو پرمټ له خپلو ټولو سيالانو مخکې شو او دغه ستره جايزه يې په خپل نوم کړه.

دغه راز رحمن الله ګربز د ياد کال په ترڅ کې په ١١ نړيوالو يو ورځنيو سياليو کې ۵٣١ منډې جوړې کړې. نوموړي درې سليزې او دوه نيمه سليزې جوړې کړې او په يوه پاڼۍ کې يې تر ټولو لوړې منډې ١٢١ وې چې د کال په لومړيو کې يې د ايرلنډ پر وړاندې ترسره کړې وې. د نوموړي ترڅنګ ځوان لوبغاړي غضنفر، چې په همدې ٢٠٢۴م کال کې يې د خپل نړيوال کرکټ سفر پيل کړ، د کال تر پايه دومره ښه ولوبېده چې د کرکټ نړيوالې شورا په غوره لوبډله کې يې ځای خپل کړ. نوموړی په ١١ سياليو کې ولوبېده او د توپ اچونې له ٢٣.۵٧ اوسط سره يې ٢١ ويکټې ترلاسه کړې چې دوه ځلې پکې ۵-۵ ويکټې هم شاملې وې او په يوه پاڼۍ کې يې تر ټولو غوره توپ اچونه د بنګله دېش پر وړاندې وکړه چې د ٢٦ منډو په بدل کې يې ٦ ويکټې ترلاسه کړې.

له بلې خوا بيا لوبډلمشر راشد خان په ١۴ نړيوالو شل اوريزو سياليو کې د توپ اچونې له غوره ٩.۵٨ اوسط سره ٣١ ويکټې ترلاسه کړې چې پکې ۴ ځلې ۴-۴ ويکټې هم شاملې وې او په يوه پاڼۍ کې يې تر ټولو غوره توپ اچونه د ١۴ منډو په بدل کې د ۴ ويکټو ترلاسه کول و.

د يادونې وړ ده چې عظمت الله عمرزی له راشد خان وروسته دويم افغان لوبغاړی شو چې د کرکټ نړيوالې شورا ستري کلنۍ جايزې ګټي. له نوموړي وړاندې راشد خان د کرکټ نړيوالې شورا د شل اوريزو نړيوالو سياليو د لسيزې غوره لوبغاړي جايزه خپله کړې وه.













# ننگرهار کې
# د افغان ابدالیانو
# تمریناتي کمپ روان دی



د افغانستان الف (افغان ابدالیان) کرکټ ملي لوبډله په متحده عربي اماراتو کې د سریلانکا او ایرلینډ د الف لوبډلو کوربه توب کوي. یاده درې اړخیزه لوبلړۍ به د راتلونکي اپرېل میاشتي له ۷مې پیل او د مې میاشتي تر دویمې نېټې دوام وکړي، چې په دغه لوبلړۍ کې ۷ یو ورځنۍ او دوه څلور ورځنۍ لوبې شاملې دي.

افغان ابدالیان به د یادې لوبلړۍ پیل د ایرلنډ الف لوبډلې سره په څلور ورځنۍ لوبې وکړي چې د اپرېل له ۷مې تر ۱۰مې نېټې د متحده عربي اماراتو په ابوظبي کې ترسره کېږي. د



لومړۍ څلور ورځنۍ لوبې وروسته به د درېیو واړو لوبډلو ترمنځ د پنځوس اوریزو لوبو درې اړخیزه لوبلړۍ پیل شي چې د پیل لوبه به یې د ایرلنډ الف او سریلانکا الف لوبډلو ترمنځ وشي.

په یاده درې اړخیزه لوبلړۍ کې به هره لوبډله یو د بلې پر وړاندې دوه ځلې د لوبې ډګر ته ووځي او دوې تر ټولو مخکښې لوبډلې به یې



پایلوبې ته لار ومومي. د مخکښو لوبډلو ترمنځ پایلوبه به د اپرېل میاشتي پر ۲۵مه نېټه ترسره



شي. د يادي درې اړخيزې لوبلړۍ له پای ته رسېدو وروسته به افغان ابداليان د سريلانكا الف لوبډلې پر وړاندې يوه څلور ورځنۍ لوبه ترسره كړي، چې د اپرېل له ۲۹مې د مې مياشتې تر ۲يمې نېټې ترسره كېږي.

د افغانستان كركټ بورډ اجراييوي رئيس شاغلی نصيب خان د يادو لوبو د چمتو كولو په اړه وايي: ((د ايرلنډ او سريلانكا الف لوبډلو پر وړاندې دغه سيالۍ به زموږ د ځوان لوبغاړو لپاره يوه بله زرينه موقع وي، ترڅو په نړيواله كچه خپلې وړتياوې ننداري ته وړاندې كړي او خپلو



مهارتونو ته لا زياته وده وركړي. زموږ يو هدف دا هم دی چې له دغو سياليو اوږده فارمټ ته غوره لوبغاړي ومومو، ترڅو كله چې ياد لوبغاړي ملي لوبډلې ته لاره مومي، له هيڅ ډول ستونزې، نوي حالت يا فشار سره مخ نه شي او په خورا غوره ډول د هېواد استازيتوب وكړي)).

بايد ووېل شي چې افغان ابداليان لوبډلې په تېرو



دوه كلونو كې ګڼ شمېر لوبو كې ګډون كړی چې د اسيا جامونو په ګډون يې دوه اړخيزو او



دري اړخيزو لوبلړيو کې لاسته راوړنې لرلې دي.

د افغانستان کرکټ بورډ وايي د افغان ابداليان لوبډله چې د ملي لوبډلې د پشتواني حيثيت لري، دوی ورته ځانګړې پاملرنه کوي او د تېرو دوه کلونو په څېر به ورته بياهم دوامداره لوبلړۍ برابروي، څو پر متن يې د ملي لوبډلې لپاره پياوړي لوبغاړي وموومي.

د يادونې وړ ده چې افغان ابداليان لوبډلې تېر کال د اسيا جام لوبو اتلولي هم وګټله، چې يو شمېر ځوان لوبغاړي يې په بېساري ډول وځلېدل او تر ملي لوبډلې ورسېدل.



دا په داسې حال کې ده چې اوسمهال افغان ابداليان لوبډلې ته د هېواد په ننګرهار ولايت کې د چمتووالي او تکړښت کمپ نيول شوی دی چې په پای ته رسېدو سره به يې څو ورځې وروسته ابداليان د دري اړخيزې لوبلړۍ په موخه متحده عربی اماراتو ته سفر وکړي.



په چمپینز ټرافي سیالیو کې د

# ابراهیم ځدراڼ او عظمت الله عمرزي

# نوې کارنامې

د کرکټ نړیوالې شورا د ۲۰۲۵ز کال په چمپینز ټرافي سیالیو کې د افغان لوبډلې په ګټه ګڼ شمېر لوبغاړو ډېرې ښې لوبې وکړې؛ ابراهیم ځدراڼ، عظمت الله عمرزی، رحمت شاه، صدیق الله اتل، محمد نبي، فضل الحق فاروقي او راشد خان هغه لوبغاړي وو، چې په دغو سیالیو کې ډېر ښه وځلېدل، خو د دې ټولو له منځه ښي لاسی تکړه پیلیز توپوهونکی ابراهیم ځدراڼ او تکړه څوان الراونډر عظمت الله عمرزي له نورو ډېرې ښې لوبې وکړې او نوې کارنامې یې په خپل نوم ثبت کړې.

د توپوهنې په برخه کې تر ټولو مخکښ لوبغاړی ابراهیم ځدراڼ و چې په دغو سیالیو کې یې د یوې سلیزې پرمټ او د ۷۲ منډو په اوسط ۲۱۶ منډې جوړې کړې. نوموړي په دغو سیالیو کې تر ټولو غوره توپوهنه په خپله دویمه لوبه کې د انګلستان پر وړاندې لوبه کې وکړه چې په ۱۴٦ توپونو یې د ٦ شپږیزو او ۱۲ څلوریزو پر وړاندې ۱۷۷ منډې جوړې کړې.

دا په یو ورځنیو نړیوالو سیالیو کې د نوموړي شپږمه سلیزه وه، خو ۱۷۷ منډې یې د لوبې په دې بڼه کې د افغان لوبغاړو له منځه تر ټولو زیاتې فردي منډې وشمېرل شوې. له دې وړاندې هم دغه ویاړ ابراهیم ځدراڼ له ځان سره درلود، چې په ۲۰۲۲م کال کې یې د سریلانکا پر وړاندې لوبه کې ۱٦۲ منډې جوړې کړې وې. سربېره پر دې، د نوموړي ۱۷۷ منډې د کرکټ نړیوالې شورا د چمپینز ټرافي سیالیو په یوه پانۍ کې هم تر ټولو لوړې فردي منډې شوې او دغه ستر ویاړ یې په خپل نوم ثبت کړ.

بل تر ټولو غوره او مخکښ لوبغاړی عظمت الله عمرزی چې د لوبې په درې واړو برخو کې ښه وځلېد. نوموړي د توپوهنې په برخه کې د یوې نیمه سلیزې پرمټ ۱۲٦ منډې جوړې کړې چې له ابراهیم ځدراڼ وروسته د افغان توپوهونکو ترمنځ دویم مخکښ توپوهونکی و. سربېره پر دې، د توپ اچونې په برخه کې هم عظمت الله عمرزی ډېر ښه وځلېده او په ۷ ویکټو سره د افغان لوبغاړو په منځ کې له ټولو مخکښ و.












عظمت الله عمرزي خپله تر ټولو غوره توپ اچونه د انګلستان پر وړاندې لوبه کې وکړه. نوموړي د لوبې له پيله تر پايه په وار وار سيال لوبغاړي له ډګره بهر کړل او په ۹.۵ اوړونو کې يې د ۵۸ منډو په بدل کې ۵ ويکټې ترلاسه کړې.

د انګلستان پر وړاندې لوبه کې د لوبې غوره لوبغاړی ابراهيم ځدراڼ ونومول شو؛ خو عظمت الله عمرزي هم د يادې لوبډلې پر وړاندې د افغان اتلانو په بريا کې ستر رول ولوباوه. نوموړي لومړی په توپوهنه کې په ۳۱ توپونو ۴۱ منډې جوړې کړې او بيا يې په خورا مهم وخت کې د افغان لوبډلې په ګټه بهترينه توپ اچونه وکړه، د لومړي ځل لپاره يې په يو ورځنيو نړيوالو سياليو کې ۵ ويکټې ترلاسه کړې او افغان لوبډله يې سترې بريا ته ورسوله.

د انګلستان پر وړاندې لوبه کې ابراهيم ځدراڼ د لوبې د غوره لوبغاړي جايزه خپله کړه؛ خو عظمت الله عمرزي هم د افغان اتلانو په بريا کې مهم رول ولوباوه. نوموړي لومړی په توپوهنه کې په ۳۱ توپونو ۴۱ چټکې منډې جوړې کړې او بيا يې د افغان لوبډلې لپاره په خورا مهم وخت کې غوره توپ اچونه وکړه، د لومړي ځل لپاره په يو ورځنيو نړيوالو سياليو کې ۵ ويکټې ترلاسه کړې او افغان لوبډله يې سترې بريا ته ورسوله.

په ټوله کې ابراهيم ځدراڼ او عظمت الله عمرزي د افغان لوبډلې لپاره خورا غوره لوبې وکړې. دواړه لوبغاړي د توپوهنې په برخه کې د خپل ثبات او دوامداري غوره کارکردګۍ له امله ډېر وستايل شول. د دوی دغو ښېسارو لوبو ته په کتو، د کرکټ نړۍ ګڼو مبصرينو د افغانستان کرکټ راتلونکی روښانه وباله. ځينو مبصرينو دې ته هم اشاره وکړه چې افغانستان د راتلونکې يوې لسيزې په اوږدو کې د ستر جامونو د ګټلو پوره ظرفيت لري.






aramco
Emirates
DP WORLD






# د وزیر محمد اکبرخان

# دویمه درجه ولایتي سیالیو

## مخکښې اته لوبډلې په ډاګه شوې

د وزیر محمد اکبرخان دویمه درجه ولایتي سیالۍ چې په کور دننه د کرکټ له اساسي او سترو لوبو ګڼل کېږي، هر کال د هېواد د بېلابېلو ولایتونو د پیاوړو لوبډلو ترمنځ ترسره کېږي. د وزیر محمد اکبر خان دویمې درجې ولایتي سیالیو کې سږ کال ۴۰ لوبډلو ګډون درلود. یادې لوبډلې چې د کلبونو په کچه لوبو څخه جوړې شوې وې، ځینو هغو ولایتونو ته چې کرکټ پکې زیاته وده کړې، له یوې زیاتې لوبډلې ورکول شوې وې.

د وزیر محمد اکبر خان دویمه درجه ولایتي لوبې چې د جنورۍ پر ۱۱مه په کندهار، کونړ، خوست او ننګرهار کې پیل شوې وې؛ د جنورۍ ۳۱مه پای ته ورسېدې. د یادو لوبو له الف ګروپ څخه فاریاب، له ب ګروپ څخه د زونونو مشترکې بند امیر، له سي ګروپ څخه کابل الف، له ډي ګروپ څخه مس عینک




زون، له اي گروپ څخه خوست الف، له ایف گروپ څخه کندز، له جي گروپ څخه هلمند او له ایچ گروپ څخه د سپین غر زون لوبډلو د وزیر محمد اکبر خان لومړۍ درجه لوبو ته لار موندله.

د دویمه درجه ولایتي سیالیو لوبډلې چې پر ۸ بېلابېلو گروپونو وېشل شوې وې. په الف گروپ کې فاریاب، ننگرهار، بلخ، سمنگان او کابل ب، په ب گروپ کې د زونونو مشترکې بندامیر، لوگر، بدخشان، کونړ او جوزجان، په سي گروپ کې بندامیر زون، زابل، کندهار، میدان وردگ او اروزگان، په ډي گروپ کې خوست، غزني، کابل سي، امو زون او تخار، په اي گروپ کې مس عینک زون، لغمان، پروان، بغلان او فراه، په ایف گروپ کې کندز، کاپیسا، ننگرهار ب، پکتیکا او نیمروز، په جي گروپ کې هلمند، پکتیا، کابل ډي، بست زون او سرپل او په ایچ گروپ کې سپین غر زون، خوست ب، هرات، کابل اي او نورستان لوبډلو گډون درلود.

د وزیر محمد اکبرخان دویمې درجې ولایتي سیالیو د توپوهنې په برخه کې خالد تنیوال، بارکزی ناصري، اعجاز الحق نورزی،




ظفر الوزی او سبحان علي د غوره منډه جوړونکو او د توپ اچونې په برخه کې عصمت حبیبي، نعمان خان، عرفان الله ساپی، عظیم ځدراڼ او بخت توخی د زیاتو ویکټو اخیستونکو په لوبغاړو په سر کې وو.

د یادونې وړ ده چې د وزیر محمد اکبر خان دویمې درجې ولایتي لوبو اته مخکښې لوبډلې او د پاتې لوبډلو ټول ځلېدونکې لوبغاړي د وزیر محمد اکبر خان لومړۍ درجه ولایتي لوبو کې لوبیږي. یادې لوبې چې هرکال ترسره کېږي؛ ۱۲ لوبډلې پکې گډون لري.



## عظمت الله عمرزی

# د خپل بېساري پرمختګ

## په لړ کې د یو ورځنیو نړیوالو سیالیو مخکښ الراونډر شو

د افغانستان کرکټ ملي لوبډلې تکړه الراونډر عظمت الله عمرزی د ۲۰۲۴ز کال د کرکټ نړیوالې شورا د یو ورځنیو سیالیو غوره لوبغاړي له اعلانېدو وروسته د یو ورځنیو نړیوالو سیالیو د الراونډرانو په درجه بندۍ کې هم لومړی مقام خپل کړ.

دغه افغان شازلمي د ۲۰۲۵ز کال کرکټ نړیوالې شورا په چمپینز ټرافي سیالیو کې خورا ښې هر اړخیزې لوبې وکړې. نوموړي نه یوازې دا چې د یوې نیمه سلیزې پرمټ ۱۲۶ منډې جوړې کړې، بلکې د توپ اچونې په برخه کې یې هم ۷ ویکټې ترلاسه کړې. د همدې غوره کارکردګۍ پر بنسټ، نوموړي د کرکټ نړیوالې شورا د یو ورځنیو نړیوالو سیالیو د الراونډرانو په درجه بندۍ کې لومړی مقام خپل کړ، چې




## TOP OF THE WORLD!

# AZMATULLAH OMARZAI

### WORLD’S TOP-RANKED ODI ALL-ROUNDER

د افغان کرکټ لپاره یو ستر ویاړ بلل کېږي.

د کرکټ نړیوالې شورا د یو ورځنیو نړیوالو سیالیو لومړی درجه الراونډر مقام له دې وړاندې له بل افغان اتل محمد نبي سره و، چې اوس یې په یاده درجه بندۍ کې دویم مقام خپل کړ. دغه راز په همدې نوملړ کې د افغان لوبډلې ځلانده ستوری راشد خان هم شتون لري، چې شپږم مقام یې له ځان سره ساتلی دی.

د نوموړي سربېره، د کرکټ نړیوالې شورا په تازه اعلان شویو درجه بندیو کې نور افغان لوبغاړي هم ډېر مخ کې تللي دي. د یو ورځنیو نړیوالو سیالیو د توپ اچوونکو په درجه بندۍ کې راشد خان ۷م او محمد نبي ۱۵م مقام له ځان سره لري. د دوی ترڅنګ، د توپوهوونکو



په درجه بندۍ کې د افغان لوبډلې ځوان تکړه پیلیز توپوهونکي ابراهیم ځدراڼ لسم او رحمن الله ګربز ۱۸م مقام لري.

د شل اوریزو نړیوالو سیالیو په توپوهوونکو کې رحمن الله ګربز ۱۶م، په توپ اچوونکو کې بیا راشد خان اتم او فضل الحق فاروقي ۱۷م مقام، او دغه راز، په الروندړانو کې محمد نبي پنځم، راشد خان او عظمت الله عمرزی دواړه په ۱۲۵ نمرو سره اوولسم مقام له ځان سره لري.

دا په داسې حال کې ده چې عظمت الله عمرزی په تېر ۲۰۲۴ز کال کې د کرکټ نړیوالې




شورا د یو ورځنیو سیالیو غوره لوبغاړی هم نومول شوی و. نوموړي تېر کال ۱۲ نړیوالې یو ورځنۍ سیالۍ ترسره کړې، چې پکې یې د یوې سلیزې او درې نیمه سلیزو پرمټ د ۵۲.۱ منډو په اوسط سره ۴۱۷ منډې جوړې کړې وې. همداراز نوموړي ۱۷ ویکټې هم ترلاسه کړې وې، چې د همدې غوره کارکردګۍ له برکته یې نه یوازې د یو ورځنیو نړیوالو سیالیو په غوره لوبډله کې ځای خپل کړ، بلکې د ۲۰۲۴ز کال د یو ورځنیو سیالیو تر ټولو غوره لوبغاړی هم وټاکل شو.

اې سي بي ايلېون لوبډلې

# د وزیر محمد اکبرخان

## لومړۍ درجه ولايتي سياليو اتلولي خپله کړه




د افغانستان کرکټ بورډ د کورني کرکټ په چوکاټ کې د وزير محمد اکبر خان لومړۍ درجه ولايتي سترې لوبې چې د فبرورۍ مياشتې په ۱۰مه نېټه په کندهار او ننګرهار ولايتونو کې پيل شوې وې؛ د همدې مياشتې پر ۲۴مه نېټه د اې سي بي ايلېون لوبډلې په اتلولۍ سره پای ته ورسېدې.

اې سي بي ايلېون لوبډلې د ننګرهار په غازي امان الله خان لوبغالي کې د کابل الف لوبډلې ته د ۱۱۵ منډو په توپير ماتې ورکړه او د اتلوالي جام يې ترلاسه کړ.

بايد ووېل شي چې د وزير محمد اکبر خان لومړۍ درجه ولايتي لوبو نيمه پايلوبو ته کابل الف، اې سي بي ايلېون، خوست الف او اې سي بي ايلېون ۲ لوبډلو لار موندلې وه.

د وزير محمد اکبر خان لومړۍ درجه ولايتي لوبې چې ۱۲ پياوړو ولايتي لوبډلو پکې ګډون کړی درلود، په دوه ګروپونو کې يې يو د بل پر وړاندې لوبې ترسره کړې چې هرې لوبډلې پکې د يو بل پر وړاندې ۵ لوبې وکړې او د هر ګروپ د سر دوه پياوړې لوبډلې نيمه پايلوبو ته ورسېدلې.

په دغه پايلوبه کې لومړی د اې سي بي ايلېون لوبډلې توپوهنه ترسره کړه او د ۲۵٦ منډو هدف يې وټاکه د دوی په ګټه شېر بهادر او عثمان سادات هر يوه ۷۰ منډې جوړې کړې او بلخوا د کابل

الف په ګټه طارق ستانکزي او کامل کاکړ ۳-۳ ویکټې ترلاسه کړې. د اې سي بي ایلېون لوبډلې د هدف څواب کې کابل الف د طارق ستانکزي ۶۹ منډو پر مټ یوازې ۱۴۰ منډو کې خپل ټول لوبغاړي له لاسه ورکړل. دا په داسې حال کې ده چې د اې سي بي ایلېون لوبډلې په توپ اچونه کې محمدالله لوګري ۵ ویکټې په خپل نوم کړې.

د لوبې د پای په مراسمو کې د اې سي بي ایلېون لوبډلې ته د اتلولۍ




لوبغاړي یې د وزیر محمد اکبر خان لومړۍ درجه ولایتي لوبو کې د بېلابېلو لوبډلو سره ولوبېدل. په وزیر محمد اکبر خان لومړۍ درجه لوبو کې هغه پیاوړي او با استعداده لوبغاړي چې په خپله توپوهنه او توپ اچونه کې یې غوره کارګردګي ترسره کړې، دوی به د میرویس نیکه جام درې ورځنیو لوبو او غازي امان الله خان جام یو ورځنیو یا لیسټ اې لوبو کې ولوبېږي، چې له میرویس نیکه درې ورځنیو سیالیو به ځلېدلي لوبغاړي د احمدشاه ابدالي فرسټ کلاس سیالیو ته لاره بیامومي.

د افغانستان کرکټ بورډ د کورنۍ کرکټ څانګې د مدیر ښاغلي نظیم جار عبدالرحیمزي په وینا، سږ کال هم په کور دننه د لوبغاړو لپاره یو بوخت کال دی، موږ لومړۍ په ولایتونو کې د کلبونو په کچه لوبې وکړې. ورپسې د وزیر محمد اکبر خان دویمه درجه لوبې ترسره شوې، چې د هېواد له بېلابېلو ولایتونو ۶۰۰ لوبغاړو پکې ګډون درلود. همدا راز د وزیر محمد اکبر خان لومړۍ درجه لوبې ترسره شوې، چې ګڼ شمېر نوي ځوان لوبغاړي پکې وځلېدل او

او د یادې لوبډلې ورو توپ اچوونکي محمدالله لوګري ته د لوبې د غوره لوبغاړي جایزه او جام ورکړل شول. همدا راز عثمان خان په ۳۸۱ منډو د غوره توپوهونکي او د لوبو د ځوان لوبغاړی، عرب ګل مومند په ۱۴ ویکټو د غوره توپ اچونکي او طارق ستانکزي په ۳۱۷ منډو او ۱۴ ویکټو د لوبو د تر ټولو غوره لوبغاړي جایزې خپلې کړې.

د وزیر محمد اکبر خان دویمه درجه ولایتي سیالیو کې ۴۰ لوبډلو او ۶۰۰ لوبغاړو ګډون درلود، ټول ځلېدونکي

تر دې وروسته به په دوامداره توګه د میرویس نیکه جام درې ورځنۍ، د معلولینو د نجیب تره کې شل اوریز جام، احمدشاه ابدالي فرسټ کلاس، ملي شل اوریز جام، شپږیزه کرکټ لیګ، غازي امان الله خان جام، د نجیب تره کی شل اوریز جام دویم پړاو او د نوولس کلنې لوبډلې د پروسس یا چاڼ جام لوبې ترسره شي.

د یادونې وړ ده چې د کورنۍ کرکټ لوبو د مهالوېش سره سم به راتلونکې اپرېل میاشت کې د میرویس نیکه جام درې ورځنۍ لوبې په ننګرهار او کونړ ولایتونو کې پیل شي، چې په پنځو لوبډلو کې به د وزیر محمد اکبر خان لومړۍ درجه ولایتي لوبو ځلېدونکي او پیاوړي لوبغاړي ولوبېږي.

# THE BEST
## DATA & VOICE ROAMING
# PLANS FOR




etisalat

0786786786


DRINK COLD
Super Cold
Cola

# از خدمات کامل مخابراتی افغان تیلی کام مستفید شوید!

## خدمات انترنت:

- فایبرنوری
- FTTH (فایبر به خانه)
- P2P و P2MP
- DSL
- 4G/3G شبکه سلام



## خدمات مکالماتی:

- تیلیفون دیجیتل
- شبکه سلام
- پی فون (تیلفون های همگانی)
- E1 Link



افغان
Afghan Telecom
یگانه شرکت مکمل مخابراتی ملی

info@afghantelecom.af
www.afghantelecom.af

+93745 111 333

333
020 3330333

# د افغان ټيلي کام DSL انټرنټ

## نامحدوده کڅوړې

| کڅوړې | امتيازي د شپې له 12 څخه د سهار تر 7 | بيه | د اعتبار موده |
|---|---|---|---|
| 3.5 Mbps | 7 Mbps | 1100 افغانۍ | 1 مياشت |
| 6 Mbps | 10 Mbps | 1600 افغانۍ | 1 مياشت |
| 8 Mbps | 10 Mbps | 2100 افغانۍ | 1 مياشت |
| 10 Mbps | 10 Mbps | 2500 افغانۍ | 1 مياشت |

## محدوده کڅوړې

| کڅوړې | سرعت | بيه | د اعتبار موده |
|---|---|---|---|
| 60 GB | 8 Mbps | 500 افغانۍ | 1 مياشت |
| 100 GB | 10 Mbps | 800 افغانۍ | 1 مياشت |
| 340 GB | 10 Mbps | 1100 افغانۍ | 1 مياشت |
| 600 GB | 10 Mbps | 1500 افغانۍ | 1 مياشت |
| 1000 GB | 10 Mbps | 2000 افغانۍ | 1 مياشت |
| 1400 GB | 10 Mbps | 2500 افغانۍ | 1 مياشت |
| 1100 GB | 10 Mbps | 3300 افغانۍ | 3 مياشت |
| 2000 GB | 10 Mbps | 4500 افغانۍ | 3 مياشت |

## کامبو کڅوړې

| | | | |
|---|---|---|---|
| 4.5 Mbps<br>د شپې له 12 څخه د سهار تر 7<br>8 Mbps | 1000 دقيقې خبرې<br>له ډيجيټل څخه ډيجيټل او سلام شبکې ته<br>100 دقيقې خبرې<br>له ډيجيټل څخه ټولو داخلي شبکو ته | 1200<br>افغانۍ | 1 مياشت |
| 400 GB<br>(10 Mbps سرعت) | 1000 دقيقې خبرې<br>له ډيجيټل څخه ډيجيټل او سلام شبکې ته<br>100 دقيقې خبرې<br>له ډيجيټل څخه ټولو داخلي شبکو ته | 1200<br>افغانۍ | 1 مياشت |

Afghan Telecom
يوازينی بشپړ ملي مخابراتي شرکت

info@afghantelecom.af
www.afghantelecom.af
+93745 111 333
333
020 3330333

# Our Services:

- 24hr ICU
- General Medicine
- Cardiology & Open Heart Surgery
- Cath Surgery
  (Angiography & Angioplasty)
- Endo Urology & Laparoscopy
- Nephtology and Hemodialysis
- General & Minimal Access Surgery
- Orthopedic Surgery
  Knee Joint Replacement
- Gastroenterology and Hepatology
- Neurosurgery
- Oncology (Medical and Surgical)
- Obs/Gyn Including Infertility Care
- Pediatric Medicine & Surgery
- Pulmonology
- ENT(Ear, Nose, Throat)
- Dental Surgery & Orthodontics
- Plastic Surgery
- 24hr Emergency & Trauma Services



SMC
Star Medical Complex
Save Health Save Life

## Message from Chairman!



Star Medical Complex was established in 2021, with a vision to build a first-class patient-focused service based on high-quality and evidence-based practice throughout the organization. And to provide this service as close to the patient as possible, in a well-managed and appropriate environment.

Our facility is located in an impressive area "between Barki Square and Parwan-e-du Square, 4th district, Kabul". Our hospital offers a variety of specialized services in OPD and IPD sections, surgical and medical ICUs along with a Cath Lab and semi-modular operation theaters. We have drawn experienced practitioners from abroad while maintaining a highly skilled nucleus of talented Afghan doctors and support staff.

In doing this we have established our focus on the quality of patient care and increasing accessibility to healthcare for all parts of Afghan society. This continues to be the mission that guides the management and ownership of Star Medical Complex Hospital.

By establishing this facility and continuing to invest in the development of the healthcare sector, we demonstrate our commitment to the well-being of Afghans and the building of a stronger, healthier, and better society.

To learn more about our healthcare network, I would invite you to visit our facilities soon and come often to witness the transformation of this sector.

+93 (0) 767 27 28 29
+93 (0) 728 27 28 29
info@smc.net.af
starmedicalcomplex1@gmail.com
www.smc.net.af
Between Baraki Square & Parwan -e- du, Kabul- Afg
بین چهارراهی برکی و پروان دو، کابل – افغانستان
Star Medical Complex




# افغان نوولس کلنې لوبډلې

## د راتلونکو سیالیو لپاره په خوست او ننګرهار کې

## د چمتووالي کمپونه ترسره کړل








دا چې د افغانستان ۱۹ کلنو کم عمره ملي لوبډله به د راتلونکي کمکي اختر وروسته نیپال ته سفر وکړي، ترڅو هلته لومړی د کوربه هېواد سره په یوه دوه اړخیزه لوبلړۍ کې درې یو ورځنۍ سیالۍ او ورپسې به په یاد هېواد کې د نړیوال جام لپاره د اسیایي هېوادونو لارمونډنې پړاو کې ګډون وکړي، په همدې موخه یې د تېرو دریو میاشتو راهیسې په ننګرهار او خوست ولایتونو کې خپل چمتووالی او په اړوند کمپونو کې یې ګډون وکړ.

یادې لوبډلې د مشر روزونکي رییس احمدزي او دغه راز د توپ اچونې او ډګر ساتنې روزونکو له لوري د لاښه چمتووالي په موخه تمرینات ترسره کړل چې په توپوهنه، توپ اچونه، ډګرساتنه، فزیکي تکړښت او مهارت لوړولو کې ورته روزنه ورکړل شوه، ترڅو د نړیوال جام سیالیو ته لارمونډنې پړاو کې ښه کارکردګي وکړي.

د ننګرهار کمپ د جنوري له لومړۍ تر ۲۷مې نېټې دوام وکړ چې ۳۰ لوبغاړي یې برخه وو. دغه راز بیا د خوست کمپ لومړی پړاو د فبروري له لومړۍ تر ۲۵مې نېټې او د خوست کمپ دویم او وروستی پړاو بیا د مارچ له ۱۵مې نېټې تر ۲۴مې نېټې دوام وکړ چې ۱۸ لوبغاړي یې ګډونوال وو چې ډېر ژر به تړې وروستی نوملړ اعلان شي.

دا په داسې حال کې ده چې د افغانستان ۱۹ کلنو کم عمره لوبډله به د نیپال پر وړاندې د اپریل په دریمه، شپږمه او نهمه نېټه د سیالیو ډګر ته ښکته شي او د همدې میاشتې په ۱۱مه نېټه به په یاد هېواد کې نړیوال جام ته د لارمونډنې سیالۍ پیل شي چې افغان لوبډله به هم پکې خپل بخت وازمايي.




# د هېواد په بېلابېلو ولایتونو

## کې رمضان جام سیالۍ ترسره شوې




د افغانستان کرکټ بورډ د کورني کرکټ څانګې په لارښونه د هېواد په بېلابېلو ولایتونو کې د کرکټ بورډ د امریتونو له لوري ۱۰ اوریزه رمضان جام سیالۍ ترسره شوې چې پکې د افغانستان د ملي لوبډلې، الف لوبډلې، ۱۹ کلنو لوبډلې او کورني کرکټ لسګونه لوبغاړو ګډون درلود. د روژې مبارکې میاشت کې د یادو سیالیو څخه موخه د لوبغاړو بوختیا او د نویو ځوانانو سره د دوی د تجربو شریکولو یو فرصت بلل شوی.

د ولایتي امریتونو له لوري د تنظیم شویو سیالیو ترڅنګ په ډېرو ولایتونو کې د خصوصي سکتور له لوري د رمضان جام ورځنۍ او شپنۍ سیالۍ هم ترسره شوې چې ځېنې یې په هارډ بال او ځینې یې بیا په ټینس بال یا توپ سره ترسره شوې چې د نویو ځوانانو لپاره پکې د بوختیا او زده کړې لپاره غوره فرصت برابر شوی وو.

د رمضان جام سیالۍ د هېوادوالو له تاوده هرکلي سره مخ شوې او په بېلابېلو ولایتونو کې د زرګونه نندارچیانو د ساعت تېرې لامل هم وګرځېدې



# افغان ابدالیان

## په ننګرهار کې د چمتووالي له کمپ

وروسته په درې اړخیزه لوبلړۍ کې ګډون کوي





د افغانستان الف (افغان ابدالیان) کرکټ ملي لوبډله په متحده عربي اماراتو کې د سریلانکا او ایرلینډ د الف لوبډلو کوربه توب کوي. یاده درې اړخیزه لوبلړۍ به د راتلونکي اپرېل میاشتې له ۷مې پیل او د مې میاشتې تر دویمې نېټې دوام وکړي، چې په دغه لوبلړۍ کې ۷ یو ورځنۍ او دوه څلور ورځنۍ لوبې شاملې دي.

افغان ابدالیان به د یادې لوبلړۍ پیل د ایرلنډ الف لوبډلې سره په څلور ورځنۍ لوبې وکړي چې د اپرېل له ۷مې تر ۱۰مې نېټې د متحده عربي اماراتو په ابوظبي کې ترسره کېږي. د لومړۍ څلور ورځنۍ لوبې وروسته به د دریو واړو لوبډلو ترمنځ د پنځوس اوریزو لوبو درې اړخیزه لوبلړۍ پیل شي چې د پیل لوبه به یې د ایرلنډ الف او سریلانکا الف لوبډلو ترمنځ وشي.

په یاده درې اړخیزه لوبلړۍ کې به هره لوبډله یو د بلې پر وړاندې دوه ځلې د لوبې ډګر ته ووځي او دوې تر ټولو مخکښې لوبډلې به یې پایلوبې ته لار ومومي. د مخکښو لوبډلو ترمنځ پایلوبه به د اپرېل میاشتې پر ۲۵مه نېټه ترسره شي. د یادې درې اړخیزې لوبلړۍ له پای ته رسېدو وروسته به افغان ابدالیان د سریلانکا الف لوبډلې پر وړاندې یوه څلور ورځنۍ لوبه ترسره کړي، چې د اپرېل له ۲۹مې د مې میاشتې تر ۲یمې نېټې ترسره کیږي.

د افغانستان کرکټ بورډ اجراییوي رئیس ښاغلی نصیب خان د یادو لوبو د چمتو کولو په اړه وایي: ((د ایرلنډ او سریلانکا الف لوبډلو پر وړاندې دغه سیالۍ به زموږ د ځوان لوبغاړو لپاره یوه بله زرینه موقع وي، ترڅو په نړیواله کچه خپلې وړتیاوې

ننداريې ته وړاندې کړي او خپلو مهارتونو ته لا زياته وده ورکړي. زموږ يو هدف دا هم دی چې له دغو سياليو اوږده فارمټ ته غوره لوبغاړي ومومو، ترڅو کله چې ياد لوبغاړي ملي لوبډلې ته لاره مومي، له هيڅ ډول ستونزې، نوي حالت يا فشار سره مخ نه شي او په خورا غوره ډول د هېواد استازيتوب وکړي)).

بايد وويل شي چې افغان ابداليان لوبډلې په تېرو  دوه کلونو کې ګڼ شمېر لوبو کې ګډون کړی چې د اسيا جامونو په ګډون




يې دوه ارخيزو او درې ارخيزو لوبلړيو کې لاسته راوړنې لرلې دي. د افغانستان کرکټ بورډ وايي د افغان ابداليان لوبډله چې د ملي لوبډلې د پشتوانې حيثيت لري، دوی ورته ځانګړې پاملرنه کوي او د تېرو دوه کلونو په څېر به ورته بياهم





دوامداره لوبلړۍ برابروي، څو پر مټ يې د ملي لوبډلې لپاره پياوړي لوبغاړي ومومي.

د يادونې وړ ده چې افغان ابداليان لوبډلې تېر کال د اسيا جام لوبو اتلولي هم وګټله، چې يو شمېر ځوان لوبغاړي پکې په بېساري ډول وځلېدل او تر ملي لوبډلې ورسېدل.

دا په داسې حال کې ده چې اوسمهال افغان ابداليان لوبډلې ته د هېواد په ننګرهار ولايت کې د چمتووالي او تکړښت کمپ نيول شوی دی چې په پای ته رسېدو سره به يې څو ورځې وروسته ابداليان د درې اړخيزې لوبلړۍ په موخه متحده عربی اماراتو ته سفر وکړي.



# د افغانستان کرکټ بورډ انجنیرۍ څانګې په ننګرهار، لغمان او بغلان ولایتونو کې رغنیزې پروژې پیل کړې









د افغانستان کرکټ بورډ د انجینرۍ څانګې په ننګرهار کې د نجیب الله تره کي کرکټ لوبغالي د خاورې تخنیکي معاینه وکړه چې ډېر ژر به په یاد لوبغالي کې د پویلین د تعمیر ډیزاین او نندارچیانو لپاره د ناستې د ځایونو د ډیزاین کارونه هم پیل شي. دغه راز په یاد لوبغالي کې د اکاډمۍ یا روزنځای د پراخولو چارې هم پیل شوې چې د مخې به یې د مخکینیو ۷ ویشتنځایونو سربېره دوه نور ویشتنځایونه هم جوړ شي او همدارنګه به یې ساحه لاپسې پراخه شي. دا چې په ننګرهار کې د کرکټ بورډ اړوند ډېرې کورنۍ سیالۍ ترسره کیږي او کرکټ پکې ډېر دی، په همدې موخه د یادې اکاډمۍ پراختیایي پروژه پیل شوه.

په ننګرهار ولایت کې د رغنیزو پروژو سربیره په لغمان ولایت کې د کرکټ لوبغالي د ویشتنځایونو جوړولو کارونه پیل شوي. د لغمان









کرکټ لوبغالي رغنيز کارونه څه موده وړاندي بشپړ شوي وو او اوس مهال پکي د پنځه ويشنځايونو جوړولو کارونه دوام لري. د يادوني وړ ده چي د لغمان ولايت د کرکټ اکاډمی يا روزنځايونو کارونه چي څه موده وړاندي پيل شوي وو اوس يي کارونه پای ته رسېدلي دي چي دي سره به په لغمان کي د نويو ځوانانو لپاره د مسلکي کرکټ برخه کي غوره زمينه مساعده شي.

بل لوري ته بيا د بغلان ولايت د کرکټ لوبغالي چارو د پيل د مخه د ياد لوبغالي لپاره د اوبو شبکه جوړېږي چي پکي د څاه کيندنه، د نلدوانی سيستم او د لمريزي برېښنا سيستم جوړول شامل دي چي د دي پروژي د بشپړېدو وروسته به د بغلان لوبغالي رغنيزي چاري پيل شي.

# د کرکټ بورډ ولایتي استازو لپاره دوه ورځنۍ ورکشاپ ترسره شو




افغانستان کرکټ بورډ د خپلو ولایتي استازو لپاره د غوره همغږۍ او پوهاوي تر نوم او عنوان لاندې د فبروري میاشتې په لومړۍ او دویمې نېټې په مرکزي دفتر کې دوه ورځنۍ ورکشاپ ترسره کړ چې پکې ټولو ولایتي استازو ته د اړوند څانګو د مسوولینو له لورې په بېلابېلو برخو کې ګټورې لارښونې وشوې او په لړ کې یې د نوي کال د پلان پر تطبیق لارښونې، مشورې او ګروپي کار وشو.

همدارنګه په دې ورکشاپ کې د کم عمره لوبغاړو، ښوونځیو، پوهنتونونو، کلبونو، ولسوالیو او ولایتونو په کچه د کورنۍ کرکټ د پرمختګ په برخه کې هم اړین موضوعات شریک شول او په دغه برخه کې د شته ستونزو او خنډونو د حل په لارو چارو به مفصل ډول ګروپي بحثونه ترسره شول.

د افغانستان کرکټ بورډ د تل په څېر د هېواد په ګوټ ګوټ کې د کرکټ د پرمختګ په برخه کې د ولایتي استازو سره په همغږۍ خدمتونه وړاندې کوي.

# د کرکټ خصوصي روزنځایونو مسوولینو ته د مدیریت د معیاري او عملیاتی کړنلارې د تطبیق په موخه ورکشاپ دایر شو



د افغانستان کرکټ بورډ د کورني کرکټ څانګې له لوري په کابل کې د کرکټ خصوصي روزنځایونو مسوولینو ته د مدیریت د معیاري او عملیاتی کړنلارې تطبیق په موخه ورکشاپ ترسره شو.

یاد ورکشاپ کې د کورني کرکټ مشر نظیم جار عبدالرحیمزي د یو پریزنټېشن له لارې ټولو ګډونوالو ته د مدیریت معیاري او عملیاتی کړنلارې د تطبیق په اړه اړیني لارښوونې وړاندې کړې.

نوموړي د اکاډمۍ یا روزنځای لپاره د ټاکلې اندازه ځمکې، معیاري ویشتنځایونو، جالونو، تحصیل لرونکو روزونکو، د لوبغاړو سره په اړوند تخصصي برخو کې د کار کولو مهالویش، نظم، ټولنیزو اخلاق او اړوند اسانتیاو په تړاو معلومات شریک کړل او له دوی یې غوښتنه وکړه چې د کرکټ او کرکټ بورډ اړوند اصولو او قوانینو ته ژمن پاتې شي.

دغه راز نظیم جار عبدالرحیمزي ډاډ ورکړ چې د تل په څېر به کرکټ بورډ د خصوصي سکتور سره همکار اوسي او په اړوند تخنیکي برخو کې به د دوی روزونکو، ټرینرانو او ډاکټرانو ته روزنیز ورکشاپونه دایر کړي، څکه د کرکټ بورډ اړوند اکاډمیو ترڅنګ همدا خصوصي اکاډمۍ دي چې ځوانانو ته یې د مسلکي کرکټ د زده کړې زمینه مساعده کړې. بل لوري ته نوموړي ټینګار وکړ چې په کلکه به له ټولو اکاډمیو نظارت او څارنه ترسره کېږي، ترڅو معیاري خدمتونه وړاندې کړي.



# د افغانستان کرکټ بورډ د **ظرفیت لوړوني څانګې** د لوبې د ویډیويي شننې او طبي مساژ ورکشاپونه ترسره کړل







د افغانستان کرکټ بورډ د ظرفیت لوړونې ځانګې له لوري د لومړي ځل لپاره د لوبې د ویډیویي شننې ((Video Analy-sis روزنیز ورکشاپ ترسره شو. یاد ورکشاپ د فبروري میاشتې په ٦مه او ٧مه نېټو ترسره شو او د افغانستان کرکټ بورډ د ظرفیت لوړونې ځانګې بېلابېلو هغو روزونکو پکې ګډون درلود چې د هېواد په اکاډمیو کې پر روزنې بوخت دي.

یاد ورکشاپ د افغانستان کرکټ ملي لوبډلې د ویډیو انلېسټ راما او د ظرفیت لوړونې څانګې د ویډیو انلېسټ یا شنونکي شېرالله افغان له لوري وړاندې شو چې پکې  د ویډیو انلېسټ یا شنونکي پر دندو، د لوبغاړو د کارکردګۍ تجزیې او شننې، د کنډېشن، د لوبډلې د روزونکي او ویډیو شنونکي ترمنځ اړیکه او د خپلو او سیالو لوبغاړو د پیاوړو او کمزورو ټکو برابرولو هنرونو او ګڼو نورو مهمو مسایلو بحث او خبرې وشوې.

دغه راز د ظرفیت لوړونې مرکز له لوري د طبې مساژ درې ورځنۍ ورکشاپ هم دایر شو چې پکې ١٢ ګډونوالو ته د طبي مساژ لومړنۍ زده کړې ورکړل شوې. د طبي مساژ دغه روزنیز ورکشاپ چې ګډونوالو ته یې د بهرنیو او کورنیو ډاکټرانو له لوري تدریس وشو؛ د طبي مساژ پر پېژندنې، موخو، ګټو، د مساژ پر تخنیکونو او ارزښت پکې د ګډونوالو سره اړین معلومات شریک شول.

طبي مساژ د لوبغاړو د فزیکي تکړښت، روغتیا او ځینو ټپونو د درملنې په ډګر کې ډېر مهم او اړین رول لري چې د دغه روزنیز سیمینار پر مټ به یې ګډونوال وکولی شي چې په دې برخه کې مسلکي زده کړې ترلاسه او په مسلکي ډول طبي مساج ترسره کړي.




# په کرکټ کې

## نه هېرېدونکې شیبې




کرکټ ته د شاهانو لوبه ویل کېږي. که په نورو لوبو کې تېروتنه وکړې وروسته یې جبرانولی شې، خو په کرکټ کې هیڅ تېروتنه نه بښل کېږي. یوازې یوه کوچنۍ تېروتنه دې د لوبې له ډګره بهر کولی شي. د بېلګې په ډول: که په فوټبال کې کوم ګول ونه کړې، کېدای شي بیا بیا توپ ګول ته برابر کړې او ګول وکړې، همدا راز که په والیبال کې یو ځل ښه شوټ ونه وهې، بیا بیا به نوبت درشي؛ خو که په کرکټ کې یوه تېروتنه وکړې نو جبران یې خورا سخت دی. که دې رن اوټ بچ کړ، یا دې کېچ وغورځاوه، یا دې نوبال وکړ، یا په ۹۹ منډو ولاړ یې او سلیزې ته دې یوازې یوه منډه پاتې ده، خو ناسم شاټ دې وواهه او وسوځېدې، یا په منډه کې چټک ځان ونه رسوې. دلته بیا موکه نه درکول کېږي، بلکې سیده به د لوبې ډګر پرېږدې. د کرکټ په هره لوبه کې یوه نه یوه پېښه کېږي، خو ځینې پېښې بیا د لیدونکو په زړونو کې تر ډېره پاتې کېږي.




## له کرکټ څخه د سچن ټنډولکر د مخه ښې ورځ

د ۲۰۱۳ز کال د نومبر په ۱۶مه سچن ټنډولکر له ویسټ انډیز سره وروستۍ ټېسټ لوبه وکړه او نور یې له کرېکټ سره مخه ښه وکړه. د کرکټ نړۍ یو افسانوي او نه تکرارېدونکي لوبغاړي سچن ټنډولکر د خپل وخت غوره کرکټ وکړ. نوموړي څه باندې دوه لسیزو ډېر د کرکټ په میدانونو پاتې شو. په کرکټ کې یې داسې کارنامې یا ریکارډونه جوړ کړل، چې فکر نه کوم مات به شي. ځکه اوس هم ټېسټ کرکټ او هم یو ورځنۍ لوبې کمې شوې او ډېر پام شل اوریزو لوبو ته اوښتی دی او ټنډولکر یوازې یوه نړیواله شل اوریزه لوبه کړې ده. کله چې ټنډولکر له کرکټ سره مخه ښه کوله په میلیونونو مینه‌والو یې وژړل. هر څه پای لري او هغه ورځ هم راورسېده چې ټنډولکر د تل لپاره له ټېسټ، یو ورځنیو او نړیوالو شل اوریزو لوبو سره مخه ښه وکړه




## ۲ د ۲۰۱۱ نړیوال جام پایلوبه

هندوستان دوې ځلې د یو ورځنیو لوبو نړیوال جامونه ګټلي دي. د ۲۰۱۱ز کال د یو ورځنیو لوبو نړیوال جام پایلوبې ته سرېلانکا او هندوستان وتلي وو. سرېلانکا د شپږو لوبغاړو په زیان په پنځوس اورونو کې ۲۷۴ منډې وکړې او هندوستان ته یې د ۲۷۵ منډو هدف کېښود. که څه هم ویندر سېهواګ په صفر او ټنډولکر په ۱۸ منډو وسوځېدل، خو وروسته ویرات کوهلي او ګاتم ګمبیر ښه لوبه وکړه او خپله لوبډله یې بري ته نږدې کړه. د هند د کرکټ هر مینه‌وال اوس هم روي شاستري هغه مشهورې خبرې په یاد لري کله چې د هندوستان لوبډلمشر ایم.ایس ډوهني د لوبې ګټونکې شپږیزه ووهله او خپله لوبډله یې بریالۍ کړه. د هندوستان دوو مشهور لوبغاړو یوراج سنګهـ او هربجن سنګهـ په ژړا وو. ټنډولکر خپل ملي بیرغ پورته کړ. د کرکټ په تاریخ کې یوه له خورا زړه راښکوونکو صحنو څخه یوه دا هم ده، چې کله هندوستان د دویم ځل لپاره د یو ورځنیو لوبو نړیوال جام وګاټه او لوبغاړو یې له ډېرې خوښۍ ژړل.



## ۳ د ۲۰۱۶ز کال د شل اوریز جام پایلوبه او د ویسټ انډیز بریا

د ۲۰۱۶ز کال د شل اوریز نړیوال جام پایلوبې ته انګلستان او ویسټ انډیز ووتل. انګلستان لومړۍ توپوهنه وکړه. جانسن روی په صفر او الیکس هیلز په یوه منډه وسوځېدل. جیو روټ ۵۴، جاس بټلر ۳۶ او ډېوید ویلي پکې ۲۱ منډې وکړې او نور لوبغاړي یې ښه ونه ځلېدل. انګلستان د ۹ لوبغاړو په زیان ۱۵۵ منډې وکړې او ویسټ انډیز ته یې د ۱۵۶ منډو هدف کېښود.

د ویسټ انډیز پیل هم ښه نه و. په ۱۱ منډو کې یې درې لوبغاړي وسوځېدل او داسې ګمه کېده چې انګلستان به دغه جام پورته کړي. مارلون سیمویلز ګټونکې ۸۵ ناسوځېدلې منډې وکړې . اخیري اور ته ۱۹ منډې پاتې شوې او بین سټوکس توپ اچونې ته راغی. ګمه داسې وه چې انګلستان به لوبه ګټي. خو کارلوس برایټ ویټ په بین سټوکس پرله‌پسې ۴ شپږیزې ووهلې او ویسټ انډیز د نړیوال جام ګټونکی شو. ویسټ په داسې حالت کې لوبه وګټله چې د ګټې سلنه یې بېخي کمه وه. که څه هم ویسټ انډیز د نړیوال جام خوښي نمانځله، خو ډېر خلک د بین سټوکس خپګان خوابدي کړي وو.



## ۴ د ۲۰۱۹ کال د یو ورځنیو لوبو نړیوال جام پایلوبه

د ۲۰۱۹ز کال د یو ورځنیو لوبو نړیوال جام ته انگلستان او نیوزیلنډ ووتل. نیوزیلنډ د ۸ لوبغاړو په زیان ۲۴۱ منډې وکړې او انگلستان هم د لسو لوبغاړو په زیان ۲۴۱ منډې وکړې او لوبه مساوي شوه. خبره سوپر اور ته ولاړه. انگلستان په سوپر اوور کې ۱۵ منډې وکړې او نیوزیلنډ هم ۱۵ منډې وکړې او لوبه بیا مساوي شوه. انگلستان لوبډله د ډېرو ۲۶ بونډریو له امله د پایلوبې گټونکې شوه. نیوزیلنډ په دغه لوبه کې ۱۷ بونډرۍ وهلې وې. که څه هم وروسته د کرکټ نړیوال شورا دغه قانون لغوه کړ او پرېکړه یې وکړه چې تر هغه وخته به سوپر اور کېږي چې گټونکی معلوم شوی نه وي، خو هغه وخت د نیوزیلنډ لوبډلې لوبغاړو او مینه‌والو اوښکې تویې کړې، چې انگلستان لوبډله د ډېرو بونډریو له امله د نړیوال جام اتله شوه.




## ۵ د ۲۰۱۹ز کال نړیوال جام نیمه‌پایلوبه کې د هندوستان ماتې او د ډوني اوښکې

د ۲۰۱۹ز د یو ورځنیو لوبو نړیوال جام کې هندوستان ښې لوبې کړې وې او د ګروپ په سر کې یې ځای درلود. نیمه‌پایلوبې ته هندوستان، نیوزیلنډ، استرالیا او انګلستان لوبډلې وتلې وې. استرالیا له انګلستان ماتې وخوړه او هندوستان له نیوزیلنډ. نیوزیلنډ لوبډلې د ۸ لوبغاړو په زیان ۲۳۹ منډې وکړې او هندوستان ته یې د ۲۴۰ منډو هدف ورکړ. که څه هم د هندوستان روهیت شرما په دغه نړیوال جام کې پینځه سلیزې وهلې وې او ښه سور کې و، خو د نیوزیلنډ په خلاف د هندوستان قوي توپوهوونکي روهیت شرما په یوه منډه، راهول هم په یوه منډه او ویرات کوهلي هم په یوه منډه وسوځېدل. د ۹۲ منډو په مقابل کې د هندوستان شپږ لوبغاړي سوځېدلي وو. رویندرا جدیجا او ایم.اېس ډوني تر یو وخته ملګرتیا وکړه او د هندوستان د ګټې خوبونه یې رښتیا کېدو ته نږدې کړل. رویندرا جدیجا وسوځېد او ډوني هم ډېر ژر رن اوټ شو. د ډوني له سوځېدو سره د هندوستان د ګټې هیلې مړې شوې، خو له ده وروسته بنیشور کمار او یوزیندر چاهل هم وسوځېدل او هندوستان له نیوزیلنډ د ۱۸ منډو په توپیر ماتې وخوړه. د هندوستان د ماتې خواشیني یوې خواته او د ډوني اوښکو د هندي مینه‌والو زړونه سخت خپه کړل.



## ٦

## د ۲۰۱۵ز کال نړیوال جام نیمه‌پایلوبه او د سویلي افریقا لوبغاړو ژړاوې

د ۲۰۱۹ز کال د یو ورځنیو لوبو نړیوال جام ته انګلستان او نیوزیلنډ ووتل. نیوزیلنډ د ۸ لوبغاړو په زیان ۲۴۱ منډې وکړې او انګلستان هم د لسو لوبغاړو په زیان ۲۴۱ منډې وکړې او لوبه مساوي شوه. خبره سوپر اور ته ولاړه. انګلستان په سوپر اوور کې ۱۵ منډې وکړې او نیوزیلنډ هم ۱۵ منډې وکړې او لوبه بیا مساوي شوه. انګلستان لوبډله د ډېرو ۲۶ بونډریو له امله د پایلوبې ګټونکې شوه. نیوزیلنډ په دغه لوبه کې ۱۷ بونډرۍ وهلې وې. که څه هم وروسته د کرکټ نړیوال شورا دغه قانون لغوه کړ او پرېکړه یې وکړه چې تر هغه وخته به سوپر اور کېږي چې ګټونکی معلوم شوی نه وي، خو هغه وخت د نیوزیلنډ لوبډلې لوبغاړو او مینه‌والو اوښکې تویې کړې، چې انګلستان لوبډله د ډېرو بونډریو له امله د نړیوال جام اتله شوه.




## ۷ د انیل کومبلي له ماتې ژامې سره سره توپ اچونه کول

انیل کومبلي د هند له مشهورو توپ اچوونکو څخه و، چې په نړیوال کرکټ کې یې ۱۰۱۳ ویکټې اخیستې دي. په ۲۰۰۲ز کال د هندوستان لوبډله د پینځو ټېسټ لوبو لپاره انګلستان ته تللې وه. په لومړۍ ټېسټ لوبه کې انیل کومبلي په دواړو پاینیو کې شپږ ویکټې واخیستې. د کومبلي ژامه ماته شوې وه او ټولو فکر کاوه چې کومبلي به لوبه ونه کړي، خو نوموړي په ماته ژامه لوبه پیل کړه. د ده استقامت د کرکټ مینه‌وال حیران کړل، خو د هغه درد، قرباني او بیا هم د لوبې بایلل د هندي مینه‌والو لپاره ډېر خواشینونکې شېبه وه.




## ۸ د هندوستان له لوري د بنګله‌دېش نه باوري کېدونکې ماتې

د ۲۰۱۶ز کال د شل اوریز نړیوال جام پر مهال د بنګله‌دېش او هندوستان ترمنځ ډېره په زړه پورې لوبه وشوه. هندوستان په ټاکل شوو ۲۰ اوورنو کې د ۷ لوبغاړو په زیان ۱۴۶ منډې وکړې. د هندوستان لپاره سورېش راینا ۳۰، ویرات کوهلي ۲۴، شېکر داهون ۲۳ او روهېت شرما ۱۸ تر نورو ډېرې منډې وکړې. بنګله‌دېش د هندوستان د هدف پوره کولو کې ډېر ښه روان و. ۱۴۵ منډې یې کړې وې او ۷ لوبغاړي یې سوځېدلي وو. بنګله‌دېش یوازې د ګټې لپاره دوو منډو ته اړتیا لرله او درې لوبغاړي هم ورسره وو، خو درې لوبغاړو یې دوه منډې ونه‌شوې کړی او لوبه ترې هندوستان په یوه منډه وګټله. بنګله‌دېشي مینه‌وال سخت مایوسه وو؛ ځکه دریو لوبغاړو یې دوه منډې ونه کړې.




## ۹ د برېنډن مککالم وروستۍ نړیواله لوبه

برېنډن مککالم د کرکټ د نړۍ یو له خورا زړه‌ورو توپوهوونکو څخه و. د مککالم له هر شاټ به لیدونکو جلا خوند اخیست. د نیوزیلنډ دې زړه‌ور توپوهونکي ډېر کم او ښه کرکټ وکړ. په ۲۰۱۶ز کال کې نوموړي وروستۍ نړیواله ټېسټ لوبه وکړه او له دې لوبې سره یې کرکټ سره مخه ښه هم وکړه. مککالم دا وخت د نیوزیلنډ لوبډلې لوبډلمشر و. نوموړي په لومړۍ پاڼۍ په یوازې ۷۹ توپونو ۱۴۵ چټکې منډې وکړې، چې ۶ شپږیزې او ۲۱ څلوریزې پکې شاملې وې. نوموړي په دویمه پاڼۍ کې هم ۲۵ منډې وکړې، خو لوبډلې یې له استرالیا د ۷ ویکټو په توپیر ماتې ومنله. د مککالم مخه ښه نه یوازې د نیوزیلنډ لپاره خواشینې کوونکې وه، بلکې خپل زرګونه مینه‌وال یې هم خوابدي کړل



## ۱۰ د سید انور وروستۍ لوبه او د پاکستاني مینهوالو ژړا

د ۲۰۱۶ز کال د شل اوریز نړیوال جام پر مهال د بنګلهدېش او هندوستان ترمنځ ډېره په زړه پورې لوبه وشوه. هندوستان په ټاکل شوو ۲۰ اوورنو کې د ۷ لوبغاړو په زیان ۱۴۶ منډې وکړې. د هندوستان لپاره سوریش راینا ۳۰، ویرات کوهلي ۲۴، شېکر داهون ۲۳ او روهېت شرما ۱۸ تر نورو ډېرې منډې وکړې. بنګلهدېش د هندوستان د هدف پوره کولو کې ډېر ښه روان و. ۱۴۵ منډې یې کړې وې او ۷ لوبغاړي یې سوځېدلي وو. بنګلهدېش یوازې د ګټې لپاره دوو منډو ته اړتیا لرله او درې لوبغاړي هم ورسره وو، خو درې لوبغاړو یې دوه منډې ونهشوې کړی او لوبه ترې هندوستان په یوه منډه وګټله. بنګلهدېشي مینهوال سخت مایوسه وو؛ ځکه درېیو لوبغاړو یې دوه منډې ونه کړې.



# په ۲۰۲۵ ز

## کال کې د افغان اتلانو بېلابېلې نړیوالې سیالۍ

د افغانستان کرکټ ملي لوبډله به د ۲۰۲۵ز کال په اوږدو کې ګڼ شمېر مهمې نړیوالې سیالۍ ترسره کړي. افغان اتلانو د روان کال په لومړیو کې د کرکټ نړیوالې شورا په چېمپینز ټرافي سیالیو کې ګډون وکړ چې له خپلو دریو سیالیو یې په یوه کې لوبه سویلي افریقا لوبډلې ته وبایلله، یوه لوبه کې یې د انګلستان پر وړاندې ستره بریا خپله کړه او وروستۍ لوبه یې د استرالیا پر وړاندې د ورښت له امله بې پایلې پای ته ورسېده.

ټاکل شوې وه چې افغان لوبډله به د جولای میاشتې په اوږدو کې ایرلنډ ته سفر وکړي او هلته د یوې ټېسټ لوبې ترڅنګ، درې نړیوالې یو ورځنۍ او درې نړیوالې شل



| Date | February |
|---|---|
| Team | West Indies |
| Venue | Home |
| Format | ODI |
| Match No | 3 |

اوریزي سیالۍ ترسره کړي، خو ایرلنډ کرکټ بورډ دغه لوبې د خپلو مالي ستونزو له امله وځنډوله. دا سیالۍ د کرکټ نړیوالې شورا د ۲۰۲۷-۲۰۲۳ کلونو د راتلونکو سفرونو د پروګرام برخه وې، خو ایرلنډ کرکټ بورډ د خپلو مالي ستونزو له امله د روان کال لپاره په خپل کلني پلان کې ندي شاملې کړي. د افغانستان کرکټ بورډ د ایرلنډ



| Date | August |
|---|---|
| Team | Pakistan |
| Venue | Away |
| Format | T20I |
| Match No | 3 |

مالي ستونزې درک کوي او اوسمهال له سیال لوري سره په خبرو بوخت دی، ترڅو په ۲۰۲۶م کال کې د یادو سیالیو لپاره داسې مهالوېش وټاکي چې د دواړو لوریو لپاره مناسب وي او د دغو سیالیو ترسره کېدو ته زمینه برابره شي.

د ایرلنډ پر وړاندې د افغان اتلانو د پلان شوې لوبلړۍ له ځنډېدو وروسته به د افغان لوبډلې بله لوبلړۍ د پاکستان پر وړاندې وي، چې په اګست میاشت کې به ترسره کېږي. افغان لوبډله به د یادو سیالیو لپاره پاکستان ته سفر وکړي او هلته به د کوربه لوبډلې پر وړاندې درې شل اوریزي نړیوالې سیالۍ ترسره کړي.

له دې وروسته، د سپتمبر میاشت د اسیا جام سیالیو لپاره ځانګړې شوې، چې افغان لوبډله به هم پکې ګډون وکړي. د یادو




| | |
|---|---|
| Date | September |
| Team | ACC Asia Cup 2025 |
| Venue | TBC |
| Format | ODI |
| Match No | TBA |

سیالیو د اصولو له مخې به دا ځل اسیا جام سیالۍ په شل اوریزه بڼه ترسره کېږي. تر اسیا جام وروسته به افغانستان کرکټ بورډ د یو ورځنیو او شل اوریزو سیالیو د یوې لوبلړۍ لپاره د بنګله دېش کرکټ ملي لوبډلې کوربه توب وکړي.

په دې لوبلړۍ کې به افغان لوبډله د سیالي بنګله دېش پر وړاندې درې نړیوالې یو ورځنۍ او درې نړیوالې شل اوریزې سیالۍ ترسره کړي.

دغه راز به افغان لوبډله زمبابوې ته هم سفر وکړي او د تېر سفر په څېر به یو ځل بیا د کوربه لوبډلې پر وړاندې دوه ټېسټ، درې یو ورځنۍ او درې نړیوالې شل اوریزې سیالۍ ترسره کړي.

همدا راز به د کال په پای



| | |
|---|---|
| Date | October |
| Team | Zimbabwe |
| Venue | Away |
| Format | All |
| Match No | T20I: 3 ODI: 3 Test: 2 |

کې افغان لوبډله متحده عربي اماراتو ته سفر وکړي، چېرې به چې د کوربه لوبډلې پر وړاندې درې نړیوالې یو ورځنۍ او درې نړیوالې شل اوریزې سیالۍ ترسره کړي.

په ټوله کې به افغان اتلان د روان کال په پاتې برخه کې ۲ ټېسټ، ۹ نړیوالې یو ورځنۍ او لږ تر لږه ۱۷ نړیوالې شل اوریزې سیالۍ ترسره کړي. دغه ټولې سیالۍ د افغان لوبډلې د راتلونکو سفرونو د پروګرام له مخې ترسره کېږي، چې دوه کاله وړاندې د کرکټ نړیوالې شورا په یوه غونډه کې د افغانستان کرکټ بورډ او نورو کرکټ بورډونو د مشرانو ترمنځ د خبرو اترو په پایله کې نهايي شوې دي.

سربېره پر دې، افغان ابدالیان (افغانستان الف) لوبډله به د راتلونکې اپرېل او مې میاشتو کې د سریلانکا او ایرلنډ لوبډلو پر وړاندې د یو ورځنیو سیالیو یوه درې اړخیزه او د دواړو لوبډلو پر وړاندې یوه-یوه څلور ورځنۍ لوبه ترسره




| | |
|---|---|
| Date | September |
| Team | ACC Asia Cup 2025 |
| Venue | TBC |
| Format | ODI |
| Match No | TBA |

کړي. د دغې لوبلړۍ په ترڅ کې به افغان ابدالیان لوبډله، د یایلوبې په شمول ۵ یو ورځنۍ او ۲ څلور ورځنۍ سیالۍ ترسره کړي.



| | |
|---|---|
| Date | December |
| Team | United Arab Emirates |
| Venue | Away |
| Format | ODI |
| Match No | 3 |

د افغانستان نوولس کلنه کرکټ ملي لوبډله به هم د یو ورځنیو سیالیو د یوې لوبلړۍ لپاره نیپال ته سفر وکړي، چېرته چې به د کوربه هېواد نوولس کلنې لوبډلې پر وړاندې درې یو ورځنۍ لوبې ترسره کړي. د دغې لوبلړۍ په پای کې به افغان لوبډله د کرکټ نړیوالې شورا د نوولس کلنو لوبغاړو د نړیوال جام غوراوي پړاو سیالیو کې هم ګډون وکړي. دا سیالۍ هم په نیپال کې ترسره کېږي، چې په ترڅ کې به یې افغان لوبډله لږ تر لږه ۴ سیالۍ ترسره کړي.

د یادونې وړ ده چې افغانستان کرکټ بورډ د کرکټ نړۍ له نورو غړو هېوادونو سره هم په خبرو اترو بوخت دی، ترڅو د روان کال په پاتې میاشتو کې د خپلو ټولو ملي لوبډلو لپاره نورې نړیوالې سیالۍ هم برابرې کړي.



# د کرکټ قوانین

## یوه مهمه اړتیا

د افغان کرکټ بورډ سوداګریزه څانګه په پام کې لري چې د افغان کرکټ خبرپاڼې په هره ګڼه کې د کرکټ قوانین شامل کړي، ترڅو لوستونکي د کرکټ له هغو اصولو او مقرراتو خبر شي، چې پر بنسټ یې لوبه ترسره کېږي. د قوانینو د لړۍ له پیلولو وړاندې د کرکټ روحیې او سپورتي اخلاقو ته کتنه اړینه ده، ځکه دا نه یوازې د لوبغاړو لپاره، بلکې د لوبخارانو، روزونکو، لیدونکو او د لوبې ټولو ګډونوالو لپاره یو مهم ارزښت دی.

### سریزه: د کرکټ روحیه او سپورتي اخلاق

کرکټ یوازې یوه لوبه نه، بلکې د ارزښتونو، سپورتي اخلاقو او درناوي سمبول هم دی. دا لوبه هغه وخت خپل حقیقي جذابیت او ارزښت پیدا کوي، چې نه یوازې د قوانینو پر بنسټ ترسره شي، بلکې د کرکټ روحیه هم پکې ژوندۍ وساتل شي.

د کرکټ روحیه د عادلانه لوبې، درناوي او سپورتي اخلاقو مراعات کول دي، چې د لوبې ټولو ګډونوالو ته یې مسوولیت ورپه غاړه کېږي. که څه هم د دې روحیې ساتلو تر ټولو ستر مسوولیت د لوبډلمشرانو پر غاړه دی، خو دا مسوولیت لوبغاړو، لوبخارانو، روزونکو، د کم عمره لوبغاړو والدینو او د لوبې ټولو ګډونوالو ته هم غځېږي. ټول باید په ګډه دا هڅه وکړي چې د لوبې پرمهال د کرکټ اصلي ارزښتونه ژوندي وساتي.

### احترام او درناوی؛ د کرکټ د روحیې اساسي اصل

د کرکټ روحیه د درناوي پر بنسټ ولاړه ده، چې لاندې ټکي پکې مهم دي:

- خپل لوبډلمشر، خپلو نورو لوبغاړو، سیالو لوبغاړو او د لوبې لوبخارانو ته درناوی ولرئ.
- په کلک عزم، خو په عادلانه ډول ولوبېږئ.
- د لوبخار پرېکړې ومنئ، حتی که ستاسې د خوښې خلاف هم وي.
- د مثبتې رویې له لارې، د لوبې ښه ماحول رامنځته کړئ او نور لوبغاړي هم دې کار ته وهڅوئ.
- په سخت وخت کې هم هڅه وکړئ چې صبر ولرئ او خپل نظم او ډسپلین وساتئ.
- سیالې لوبډلې ته هغوی د بریا مبارکي ورکړئ او خپلې لاسته راوړنې او بریاوې ولمانځئ.
- د لوبې پایله که هر څه وي، له سیالو لوبغاړو او لوبخارانو مننه وکړئ.

کرکټ یوه ځانګړې لوبه ده، چې نه یوازې د لوبغاړو ترمنځ ملګرتیا، درناوی او یووالي رامنځته کوي، بلکې د بېلابېلو هېوادونو، قومونو، کلتورونو او مذهبونو خلک هم سره نږدې کوي. کله چې لوبه د قوانینو ترڅنګ د اخلاقو او سپورتي ارزښتونو پر بنسټ ترسره

شي، نو لا زیاته ښکلا او جذابیت پیدا کوي. په همدې اساس، هر لوبغاړی باید هڅه وکړي چې د کرکټ اصلي روحیه ژوندۍ وساتي، ځکه کرکټ یوازې د منډو او ویکټو نوم نه دی، بلکې د درناوي، صداقت او عادلانه لوبې نښه هم ده.

### د کرکټ لومړی قانون: لوبغاړي

#### ۱.۱ د لوبغاړو شمېر

د کرکټ یوه لوبه د دوو لوبډلو ترمنځ ترسره کېږي، چې هره لوبډله ۱۱ لوبغاړي لري او یو له دوی څخه لوبډلمشر وي. که د دواړو لوبډلو خوښه وي، نو د لوبغاړو شمېر له ۱۱ کمېدی او زیاتېدی هم شي، خو په یوه وخت کې د ډګر ساتنې لپاره له ۱۱ زیات لوبغاړي په لوبغالي کې نشي پاتې کېدی. که د لوبې پر مهال، د هر دلیل له مخې، د یوې لوبډلې لوبغاړي کم شي نو لوبه به تر هغه دوام کوي، څو پورې چې د کرکټ د قوانینو یا د لوبې له پیله وړاندې د شوې هوکړې سره مطابقت ولري.

#### ۱.۲ د لوبغاړو ټاکل او بدلون

د هندوستان دوو مشهورو لوبغاړو راهول ډراوېډ او سچن ټنډولکر په ټېسټ لوبو کې د انګلستان پر وړاندې عجیب ریکارډ لري. دواړو ۷ ـ ۷ سلیزې وهلې دي، د منډو اوسط یې یو شان دی، د ټولو منډو شمېر یې هم یو شان دی او منډې یې هم یو شان دي. یوازېنی توپیر د دواړو ترمنځ د لوړو منډو دی.

۱.۲.۱ هر لوبډلمشر باید له پچې اچولو (ټاس) وړاندې خپل ۱۱ کسیز نوملړ په لیکلي بڼه لوبخار ته وسپاري.

۱.۲.۲ یو ځل چې نوملړ لوبخار ته وسپارل شو، نو د سیال لوبډلمشر له اجازې پرته پکې بدلون نشي راتلی.

۱.۲.۳ هر بدل شوی لوبغاړی د هغه لوبغاړي ځای نیسي، چې له وړاندې نومول شوی و.

۱.۲.۳.۱ بدیل لوبغاړی نشي کولی په هغه پانۍ توپوهنه وکړي، چې پخواني لوبغاړي پکې خپله توپوهنه بشپړه کړې وي.

۱.۲.۳.۲ که پر پخواني لوبغاړي کومه جریمه، خبرداری (اخطار) یا بندیز لګېدلی وي، نو بدیل لوبغاړي ته هم انتقالېږي.

#### ۱.۳ لوبډلمشر

۱.۳.۱ که د لوبې پر مهال لوبډلمشر شتون ونه لري، نو مرستیال به یې دنده پرمخ وړي.

۱.۳.۲ که لوبډلمشر د لوبې له پیله نه وي، نو د لوبډلې یو بل غړی کولی شي ۱۱ کسیز نوملړ لوبخار ته وسپاري.

۱.۳.۳ کله چې ۱۱ کسیز نوملړ وټاکل شي، نو یوازې یوه ټاکل شوې لوبغاړي ته دا حق ورکول کېږي، چې د قوانینو له مخې، د لوبډلمشر د مرستیال په توګه فعالیت وکړي، چې د پچې (ټاس) اچولو واک هم لري.

#### ۱.۴ د لوبډلمشرانو مسؤلیتونه

لوبډلمشران هر وخت مکلف دي، چې لوبه د کرکټ د قوانینو او د کرکټ د روحیې (سپورتي اخلاقو) مطابق ترسره کړي.

د کرکټ دویم قانون: لوبخاران

**۲.۱ - ټاکنه او شتون:**

لوبخاران د لوبې له پیلېدو وړاندې ټاکل کېږي، ترڅو لوبه د کرکټ د قوانینو په رڼا کې په بشپړه بې پرې او بې طرفه توګه وڅاري. دوی باید د لوبې له پیله لږ تر لږه ۴۵ دقیقې وړاندې په لوبغالي کې حاضر وي.

**۲.۲ - د لوبخار بدلون:**

لوبخاران یوازې په جدي حالاتو کې، لکه د ټپي کېدو او ناروغۍ پرمهال، بدلېدلی شي. نوی لوبخار یوازې په سکویرلیګ برخه کې

لوبغارنه کوي، خو که دواړه لوبډلمشران موافقه وکړي نو کولی شي چې د لوبې بشپړ مسوولیت هم واخلي.

**۲.۳ - له کپتانانو سره مشوره:**

۲.۳.۱ - لوبغاړان باید د لوبې له ټاس (پچې اچولو) وړاندې لوبډلمشرانو سره وګوري او پر لاندې موضوعاتو وغږیږي:

۲.۳.۱.۱ - د توپونو (بالونو) ټاکنه

۲.۳.۱.۲ - د لوبې د پیل او پای وختونه او د لوبې د منځ وقفې (چې تفصیل به یې په ۱۱م قانون کې ذکر شي)

۲.۳.۱.۳ - د لوبې پرمهال د وخت معلوملو لپاره د اړوند ساعت ټاکل

۲.۳.۱.۴ - د لوبغالي بونډرۍ معلومول (تفصیل به یې په ۱۹م قانون کې ذکر شي)

۲.۳.۱.۵ - د ویشتنځایونو د پوښلو یا پټولو لپاره د ترپالونو د کارولو اصول

۲.۳.۱.۶ - د لوبې نور ځانګړي اصول او شرایط

۲.۳.۲ - لوبغاړان باید دغه پریکړې د لوبې سکوررانو (منډو شمېرونکو) ته هم رسوي.

**۲.۴ - د ویکټو، کریزونو او بونډریو ارزونه:**

لوبغاړان باید د لوبې له پیله وړاندې وارزوي، چې:

۲.۴.۱ - کریزونه په سمه توګه په نښه شوي دي.

۲.۴.۲ - ویکټې په سمه توګه ځای پر ځای شوې دي.

۲.۴.۳ - بونډرۍ په واضحه توګه ښکاري.

۲.۵ - وسایل او د لوبې اصول

لوبغاړان باید په دې ډاډه وي چې:

۲.۵.۱ - لوبه د کرکټ له قوانینو سره سمه روانه ده.

۲.۵.۲ - توپ (بال)، بېټ، ویکټې، بېلزونه، د ویکټ ساتونکي دستکشې او نور اړوند وسایل د ټاکل شویو اصولو مطابق دي.

۲.۴.۳ - هېڅ لوبغاړی د محافظتي وسایلو په شمول داسې وسایل نه کاروي، چې د کارولو اجازه یې نه وي.

۲.۶ - عادلانه او غیر عادلانه لوبه:

لوبغاړان یوازیني کسان دي چې د لوبې عادلانه او غیر عادلانه والی ټاکي.

**۲.۷ - د لوبې دوام:**

۲.۷.۱ - یوازې لوبغاړان دا پرېکړه کولی شي چې د لوبغالي، هوا او رڼا شرایط د لوبې د دوام لپاره مناسب دي که نه.

۲.۷.۲ - د لوبغالي شرایط یوازې هغه وخت خطرناک یا نامناسب ګڼل کېږي، کله چې د لوبغاړو یا د لوبغاړانو د روغتیا لپاره مستقیم خطر جوړ کړي.

۲.۷.۳ - که چېرې لوبغالی دومره لوند یا ښوی وي چې د توپ اچوونکو، توپوهونکو او ډګرساتونکو په حرکاتو اغېز وکړي نو لوبه خطرناکه او غیر عملي ګڼل کېږي.

**۲.۸ - په نامناسبو او خطرناکو حالاتو کې د لوبې ځنډول**

۲.۸.۱ - که د لوبې شرایط، هوا یا رڼا مناسبه نه وي یا خطرناکه وي نو لوبغاړان باید سمدلاسه لوبه ودروي یا وځنډوي.

۲.۸.۲ - کله چې لوبه ودرول شي، نو لوبغاړان به شرایط څاري او یوازې هغوی کولی شي، چې د حالاتو له ښه کېدو وروسته د لوبې د بیا ځلې پیلېدو پرېکړه وکړي.

د افغان کرکټ د خبرباڼې او یا د دې مجلې په راتلونکې ګڼه کې به تاسې ته د کرکټ د دویم قانون د پاتې برخې په اړه معلومات درکړل شي.






*Afghanistan Cricket Board*
*Kabul International Cricket Stadium*
*Near Chaman-e-Huzoori, Khan Abdul*
*Ghani Khan Road, Kabul, Afghanistan*